# د سولې د پروسې په اړه د خلکو انګیرنې

## افغانستان



د صلاح کانسرسیوم

د ۱۳۹۸ کال د سلواغې میاشت

HEINRICH BÖLL STIFTUNG

## د سروې د پلي کوونکو بنسټونو معرفي

دغه سروې د هانريش بول بنسټ په مالي مرسته ترسره شوې ده. د سروې ساحوي کار او کړنې د صلاح کانسرسيوم په وسيله په ټول هيواد کې اجراء شوې دي.

د سروې د توزيع او نشر مسئوليت هم صلاح کانسرسيوم ته ورکول شوی ؤ. د مطبوعاتي کنفرانس څخه وروسته به دغه راپور په پراخ ډول د رسنيو او ټولنيزو شبکو سره شريک او نشر شي.

د صلاح کانسرسيوم د شپږو غير انتفاعی او ناحکومتي بنسټونو څخه جوړ دی چې: د افغان ښځو تعليمي مرکز (AWEC)، د سولې او يووالي لپاره همکاري (CPAU)، د سولې او دموکراسۍ د برابري اداره (EPD)، د سولې د روزنې او څېړنې سازمان (PTRO)، د سنائي انکشافي سازمان (SDO) چې د اړيکو د دفتر (TLO) په وسيله رهبري کيږي، پکښې شامل دي.

د ۲۰۱۴ څخه را پديخوا د کانسرسيوم غړي د سولې او ثبات د راوستلو، ښې حکومتوالی، د ټولنې او عدلي بنسټونو ترمنځ د روابطو د تقويې لپاره کار کوي. پر دې سربيره، کانسرسيوم اوس اوس په ډيره بريا د افغانستان په ۳۴ ولايتونو کې فعاليت کوي.

د سروې دغه راپور د محمد عثمان طارق په وسيله ليکل شوی او د يوه تخنيکي ټيم چې دوکتور محمد نجيب عزيزي ئې مشري، ميرويس وردک، رحمت الله اميري او محمد مرتضی حقيقت ئې غړيتوب درلود د کره کتنې کار ترسره شوی دی. د يادونې وړ ده چې د سروې پښتو راپور هم خپله ليکوال ليکلی دی.

## يادونه يا خبرتيا:

دغه ليکنه د هانريش بول بنسټ په مالي ملاتړ ترسره شوې ده. ددې د محتوا ټول مسئوليت د تطبيق کونکي بنسټ پر غاړه دی او هيڅکله د تمويل کونکې ادارې نظريات نه منعکس کوي.

# د مطالبو لړلیک

**د مطالبو لړلیک** ........ ٤
**۱. اجرائیوي نچوړ** ........ ٥
**۲. د سولې پروسې په وړاندې خنډونه او د افغان ځوانانو افراطي کیدل** ........ ٧
۲.۱ - د پائیدونکې سولې په وړاندې بنستیز خنډونه او ننګونې ........ ٨
۲.۲ – د وسله والو ډلو سره د ځوانانو د یوځای کیدلو بنستیز لاملونه ........ ١٢
**۳. سیاسی اراده** ........ ١٤
۳.۱ – د سولې په هکله د دولت په سیاسي اراده د خلکو باور ........ ١٤
۳.۲ – د سولې په هکله د طالبانو په سیاسی اراده د خلکو باور ........ ١٦
۳.۳ – د سولې د مستقیمو خبرو اترو پایلې ........ ١٨
۳.۴ – د سولې د ترون منل د طالبانو لخوا ........ ١٩
**۴. استازیتوب** ........ ٢١
۴.۱ – د سولې په خبرو اترو کې څوک ستاسو ښه استازیتوب کولای شي ........ ٢١
۴.۲ – د سولې په خبرو اترو کې د افغان دولت رول ........ ٢٣
**۵. ستراتیژی او محتوا** ........ ٢٥
۵.۱ – د سولې د خبرو اترو لپاره واړندې شوې محتوا ........ ٢٥
۵.۲ – د سولې لپاره څه له لاسه ورکړو ........ ٢٦
۵.۳ – د سولې راوستلو لپاره ښه ستراتیژي ........ ٢٨
۵.۴ – د اوربند لپاره غوښتنه ........ ٣٠
**٦. مهم لوبغاړي/ذیدخله غاړې** ........ ٣٢
٦.۱ - یو تن د سولې په هکله څه کولای شي ........ ٣٢
٦.۲ – د همسایه هیوادونو څخه هیلې ........ ٣٤
٦.۳ – د ملګروملتونو، نړیوالې ټولنې او اسلامي تعاون د کنفرانس څخه هیلې ........ ٣٦
**۷. میتودولوژي** ........ ٣٩
لومړی پړاو – د ساحوي کار څخه مخکې ګامونه/فعالیتونه ........ ٣٩
دویم پړاو – د ساحوي کار په وخت کې ګامونه/فعالیتونه ........ ٤٠
دریم پړاو – د ساحوي کار څخه وروسته فعالیتونه ........ ٤١
**۸. پایلیزه تبصره** ........ ٤٣
**۹. ضمایم** ........ ٤٥
لومړی ضمیمه – د سولې خبرو اترو د اجنډا لپاره وړاندې شوي موضوعات ........ ٤٥
دویمه ضمیمه – پلان شوې او اجراشوې مرکې د ولایت پر بنسټ ........ ٤٩
دریمه ضمیمه – د زونونو ترکیب/تشکیل ........ ٥٠
څلورمه ضمیمه - پوښتنپاڼه ........ ٥٠

## ۱. اجرائیوي نچوړ

دواړه سوله او شخړه زمونږ مخته هره ورځ را ښکاره کیږي، خو دا چې خلک په افغانستان کې د سولې او رواني شخړې په اړه څه فکر کوي، پوښتنه لا پرځای ده. د هانریش بول بنسټ په مالي ملاتړ، صلاح کانسرسیوم د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د سولې، شخړې او داسې نورو ډول ډول اړونده موضوعاتو په اړه د ٦٨٦٩ کسانو د انګیرنو سروې ترسره کړه. ددغې سروې پراخه موخه داوه چې د امریکې متحده ایالاتو په وسیله د سیاسي جوړجاړي رواني هڅې چې د افغانستان اوږدې شخړې ته به د پای ټکې کښیږدي، په اړه د افغانانو غږ اوچت کړي. له ۱۳۸۱ هـ ش کال – د طالبانو د رژیم د سقوط څخه وروسته – داسې خورا مهمه هڅه هیڅکله هم نه وه ترسره شوې کومه چې د په تیرو دوه کلونو (۱۳۹۷ – ۱۳۹۸) کلونو کې ترسره شوي ده. نو دا لومړی ځل ؤ چې افغانستان حکومت، سیاسي خواصو، د امریکې متحده ایالاتو، اروپائي ټولنې، د سیمې او لرې سیمه ایزه هیوادونو، همداراز طالبانو پکښې درنه ونډه واخیستله.

تلپاتې سولې پر وړاندې ننګونې کومې دي؟ د شخړې د دواړو غاړو سیاسي اراده د سولې په راوستلو کې د خلکو انګیرنې څنګه دي؟ د همسایه هیوادونو او د نړیوالې ټولنې ونډه د سولې په پروسه کې څه ده؟ دغه هغه څو په شمار پالیسي پورې تړلې پوښتنې دي چې د سولې په اړه د انګیرنو په دغې سروې د هغوی ځواب سپړل شوی دی. دغه پایلې د امریکې متحده ایالاتو او طالبانو له خبرو سره په دوحه کې، همداراز د راتلونکو بین الافغانی سولې خبرو سره ډیر نژدې تړاو لري.

دغه د سولې د انګیرنو سروې د ۱۳۹۸ کال د قوس ۲۵ څخه د جدي د میاشتې تر ۱۰ مه نیټې په درې پړاوونو کې تر سره شوې ده. لومړی پړاو ئې د ساحوي کړنو څخه مخکې کړنو او فعالیتونو لکه: د پوښتنپاڼې جوړول، سوپروایزرانو ته روزنه او د پوښتنپاڼې ساحوي چک کول، د معلوماتو د راټولولو د پلان جوړول، او په مایکروسافټ ایکسل کې د دیټابیس انکشاف او وده شامل ده.

په دویم پړاو کې، معلومات د مخامخ مرکو په ترڅ کې چې د اتفاقي نمونې اخیستنې په طریقه غوره شوې وې راټول شوی دی. د نمونې اخیستنه د ولایت د نفوس پر بنسټ تثبیت شوی ؤ. د نمونې اخیستنې په هر ځای کې لس مرکې ترسره شوي دي. یو مشترک ټیم د مرکو د پنځه سلنې نظارت کړی دی ترڅو د کیفیت کنټرول ته لاره هواره، د سروې کوونکو د مهارتونو کې ښه والی، او د یو جدي میکانیزم پر بنسټ د معلوماتو په ټولولو کې کیفیت او شفافیت یقیني کړي. نظارت شوېو مرکو شمیر ۳۴۳ دی چې په هیواد کې د نمونې اخیستلو په مختلفو سیمو کې ترسره شوي دي. د نظارت ټیم همداراز په اته (۸) سلنه ترسره شوې مرکو د ساحوي کار څخه وروسته بیا کتنه (بک چک) شوي دي چه په ټول هیواد کې ئې شمیر ۵۱۱ مرکو ته رسیږي. د دغه کار په درشل کې څلور پر پنځه (۸۲٪) ځواب ورکوونکو مثبت ځواب ورکړ او هغه دا چې له دوي سره مرکه ترسره شوې ده. هغو ځواب ورکوونکو چې تیلفون ته ځواب ورنکړ او یا ئې هم وویل چې له دوي سره مرکه نه ده شوې یو پر پنځو څخه د کمو (۱۸٪) ځواب ورکوونکو استازیتوب کوي او د دوي لوی شمیر د ناامنو سیمو اوسیدونکي دي.

په دریم پړاو کې د ټولو تکمیل شویو مرکو (سکن کاپي) له ټولو ولایتونو څخه مرکز د معلوماتو د واردولو ټیم ته استول شوي دي. ډیتابیس ته د معلوماتو د واردولو څخه وروسته، د څیړنې او تحلیل سلاکار د پاکولو او فلتر په نتیجه کې له ٦٨٦٩ مرکو څخه ۴۲۱ مرکې د معیارونو په نه درلودلو سره د ډیتابیس څخه وویستل شوې. د سروې څیړنه د پاتې ٦۴۴٨ مرکو د معلوماتو پر بنسټ ترسره شوی ده. د دغې سروې د اشتباه حاشیه +/- ۱.۸ او د باور کچه ئې ۹۵ سلنه ده.

دا سروې د ۶۴۴۸ مرکه کوونکو چې د ۳۴ ولایتونو څخه دي - دهغو ولسوالیو چې شخړه پکې روانه ده او د هغو ښاري او کلیوالي سیمو چې نسبي امن پکښې شتون لري – د شخړې او سولې په اړه د نظریاتو استازیتوب کوي.

په دغې سروې کښې هڅه شوې ده تر څو یو شمیر هغه پوښتنو ته چې په سولې پورې تړلي دي او دا چې خلک د هغو په اړه څه فکر کوي، ځواب ورکړي. دغې سروې کې هڅه شوې ده تر څو د تلپاتې سولې په وړاندې خنډونه اوداچه ولې ځوانان وسله والو ډلو سره یوځای کیږي، د لاملونو گرویږنه وشي. د سروې ځواب ورکوونکو ویلي دي چې هغه ننگونې او خنډونه چې د سولې پروسه ورسره مخ دی داعش او همسایه هیوادونه دي (۱۱٪)، له دې وروسته اداري فساد او د قانون نه حاکمیت (۹٪)، د بهرنیو ځواکونو شتون، ضعیفه ولایتي اداره او فقر (۸٪)، د بهرنیو تروریستي ډلو او د مخدره توکو مافیا (۷٪). په ټولیزه ډول، ضعیفه حکومتوالی پورې تړلي ننگونې او خنډونه له نیمایي څخه ډیره (۵۵) سلنه جوړوي. اقتصادي لاملونه چې د ځوانانو له وسله والو ډلو په ځانگړي توگه طالبانو سره د یو ځای کېدو سبب گرځي له یو پر څلورو څخه زیاته سلنه (۲۸٪) جوړوي.

مونږ همداراز له خلکو څخه د حکومت او طالبانو د سیاسی ارادې په هکله  او دا چې د سولې لاسلیک شوی تړون به د طالبانو د ټولو ډلو لخوا په بشپړ ډول ومنل شي د دوی باور او انگیرنو څخه پوښتنه وکړه. له درې پاوه څخه زیاتو (۷۹٪) ویلي دي چې دوی ډیر او یا هم تر یوه حده د حکومت په سیاسي اراده د سولې په راوستلو باور لري، پداسې حال کې چې د سولې په راوستلو کې د طالبانو سیاسي اراده باندې د دوه پر درې څخه (۶۳٪) لږ خلک باور لري. د زونونو ترمنځ د طالبانو د سیاسي ارادې په هکله چې سوله به راولي ډیر تفاوت شتون لري: په جنوبغرب زون کې ډیر لوړه سلنه د ځواب ورکوونکو (۸۱٪) د طالبانو د سیاسي ارادې چې سوله به راولي باور څرگند کړی دی چې هغه پسې درې پاوه (۷۵٪) خلک په شرق زون کې دا باور لري. دې ته ورته، د څلور پر پنځه (۸۶٪) څخه زیاتو ځواب ورکوونکو په جنوبغرب زون کې ویلي دي چې دوی باور لري چې حکومت او طالبانو د سولې مخامخ خبرې به نتیجه ولري. په جنوبشرق (۸۳٪) او شرق (۸۰٪) زونونو کې د سولې په مخامخ خبرو په لوړه کچه باور لري چې دا د ټولو زونونو له اوسط (۷۵٪) څخه لوړ دی. په داسې حال کې چې شمالغرب زون ډیر لږ باور لري چې د حکومت او طالبانو د سولې مخامخ خبرې به نتیجه ورکړي، له یو پر درې (۳۶٪) څخه ډیرو ځواب ورکوونکو په دغه زون کې څرگنده کړې ده چې یا باور نلري او یاهم نه پوهیږي چې مخامخ خبرې اترې به نتیجه ولري.

په دغه سروې کې د سولې په خبرو کې د استازیتوب مسئله هم د یو سوال په ترڅ کې مطرح شوه چه *څوک ستاسو ښه استازیتوب د سولې په خبرو کې کولای شي او تاسو د سولې په خبرو کې د دولت رول څنگه وینی؟*

نژدې دوه پر پنځو (۳۹٪) ویلي دي چې دولت د سولې په خبرو کې د دوی د گټو استازیتوب کولای شي، چې ورپسې د جگړې د قربانیانو استازي (۱۵٪) او مدني ټولنه د (۱۳٪) ځواب ورکوونکو استازیتوب کولای شي. یو له لسو (۹٪) څخه ځواب ورکوونکو ویلي دي چې ښځې په ډیره ښه توگه د دوي د گټو استازیتوب د سولې په خبرو کې کولای شي، حال داچې یو له یوولسو (۹٪) ځواب ورکوونکي راپور ورکوي چې سیاسي گوندونه/ډلې د دوی استازیتوب کولای شي. یو له څوارلسو (۷٪) ځواب ورکوونکو څخه ویلي دي چې دیني عالمان/قومی مشران او د ځوانانو استازي د دوی د گټو مؤثر استازیتوب کولای شي. دې ته ورته، نژدې دوه پر درې (۶۱٪) ځواب ورکوونکو ویلي دي چې د حکومت رول د سولې په خبرو کې ډیر مهم (۴۹٪) یا مهم (۱۲٪) دی، نو د یو پر درې (۳۲٪) څخه لږ ځواب ورکوونکو راپور ورکړی دی چې د حکومت رول د طالبانو سره د سولې په خبرو کې مهم ندی.

د خلکو څخه پوښتنه وشوه چې کومه ستراتیژي د سولې د خبرو لپاره باید وکارول شي او د خبرو په محتوا کې څه څیز باید شامل وي. مونږ همداراز د خلکو څخه وپوښتل چه آیا دوی حاضر دي د سولې لپاره څه له لاسه ورکړي؟ د دایمي اوربند په اړه مو د ځواب ورکوونکو څخه پوښتنه وکړه، د مطلق اکثریت څخه ډیرو (۹۳٪) ځواب ورکوونکو هیله داده چې یو دایمی

اوربند وشي. او په پای کې ځواب ورکوونکو د سولې پروسې بېلابېلو لوبغاړو – له هغو څخه هر ملکي وګړی، همسایه هیوادونه او نړیواله ټولنه – ته ځانګړې سپارښتنې کړي دي.

هغه موضوعات چې د سولې د خبرو په اجنډا کې د شاملېدو وړاندېز یې شویدی، څېنې ئې دلته رانقلوو او تفصیل ئې وروسته د سروې په راپور کې راغلی دی.

١. اوربند او د جګړې ختمول
٢. د ښځو حقونه
٣. تلپاتې سوله
٤. د خلکو غوښتنو او سپارښتنو ته ارزښ ورکول
٥. د امنیت تأمینول
٦. د بریالیو خبرو لپاره د حکومت او طالبانو ژمنه
٧. د هیواد د پرمختیا ستراتیژۍ په لویو ټکو بحث کول
٨. د بندیانو خوشې کول
٩. د سیمې په اقتصاد، اوپه سیمه ایزو اقتصادي فعالیتونو کې د افغانستان ونډه
١٠. اساسي قانون

په پای کې، د دغې سروې ځانګړې موخه داده چې د عامو افغانانو غږ سولې پروسې کې ځای پیدا کړي. له دې سروې څخه به نه یوازې د سولې په پروسه کې د یوې وسیلې په ډول ګټه واخیستل شي بلکې دا به افغانان تشویق کړي تر څو هیواد ته د سولې د راوستلو په اړه خپلې هڅې ډیرې او په دغه لاره کې لازیات فعال شي. که څه هم اوس د سولې پروسه د بهرنیو او افغان سیاسي کړیو لخوا مخ ته ځي خو په سروې کې ځوابونو څخه دا معلومیږي چې خلک مدني ټولنې، قومي مشرانو/ديني مشرانو او د ټولنې نورو غړو ته د ډیرې ونډې اخیستنې غوښتونکي دي.

دغې سروې او څېړنې دا څرګنده کړه چې عام افغانان اقتصادي ستونزې او د دندو نشتوالی د وسله والو ډلو سره د ځوانانو د یوځای کیدلو لوی لاملونه ګڼي، له دې څخه دا هم معلومه شوه چې ایډیالوژۍ پورې اړونده لامل په دې اړه یو کوچنی لامل بلل کیږي. خلک، همدا رنګه، انګیرنې لري چې شخړه په افغانستان کې محلي، سیمه ائیزه او نړیوال اړخونه لري؛ له دې سره سره، خلک لیواله دي چې په مستقیم ډول د سولې د راوستلو لپاره په کلیوالي کچه ونډه واخلي. دا دغه مسئله هم څرګندوي چې خلک ناهیلي نه دي او د پائیدونکې سولې په راوستلو کې د ونډې درلودلو لپاره تیار دي. د سروې د نتایجو سره سم، د ښځو حقونه یوه ډیره مهمه مسئله ګڼل شوې چې د سولې په اجنډا کې باید شامله شي، د استازیتوب په هکله د دولت رول په ځوابونو کې ډیر اوچت بلل شوی دی. پردې سربیره، خلک باور لري چې د جګړې د قربانیانو استازي، مدني ټولنې او نور ګروپونه د دوی استازیتوب کولای شي. دا هم مهمه ده چې لویه برخه د ځواب ورکوونکو نه غواړي چه د تیرو ١٨ کلو لاسته ر اوړنې له لاسه ورکړي.


## ٢. د سولې پروسې په وړاندې خنډونه او د افغان ځوانانو افراطی کیدل

د سولې پروسه چې په ١٣٩٧ کال کې د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د خبرو سره پیل شوې ده له هغه څه څخه چې افغانان ئې هیله لري ډیره ورو پرمخ ځي. په دغه سروې کښې افغان ولس څخه پوښتنه شوې ده چې هغه لوی خنډونه چې د سولې د پروسې د پرمختګ مانع ګرځي کوم دي. د ځواب ورکوونکو څخه وپوښتل شول چې د سولې پروسې لویې ننګونې او همدا راز له د وسله والو ډلو وړتیا د ځوانان په ګمارلو کې څه ده. د سروې د راپور دغه برخه په دوه فرعي برخو ویشل شوې


ده: په دې باندې پوهه چې د سولې پروسې په وړاندې لوی خنډونه کوم دي؛ او د کومو لاملونو شتون سبب ګرځېدلای دی چې ځوانان د وسله والو مخالفو ډلو سره یو ځای شي. وروسته د سولې د پروسې په وړاندې خنډونه بیا په دوه ډولونو تقسیم شوي دي چې یو ډول بهرني خنډونه او ننګونې او دویم ډول ئې کورني خنډونه او ننګونې تر څېړنې لاندې نیسي.

## ۲.۱ - د پائیدونکې سولې په وړاندې بنسټیز خنډونه او ننګونې


کله چې د پوښتنه وشوه چې د پائیدونکې سولې پر وړاندې لوی خنډونه کوم دي، یو له نهو (۱۱٪) څخه ځواب ورکوونکو داعش او همسایه هیوادونه د سولې د پروسې په وړاندې لوی خنډونه بللي دي، له دې څخه وروسته اداري فساد او د قانون د حاکمیت نشتون (۹٪)، د بهرنیو ځواکونو شتون، ولایتي ضعیفه اداره او فقر (۸٪) بهرنی تروریستي ډلې او د مخدره توکو مافیا (۷٪) ځواب ورکوونکو په نښه کړي دي. د کانونو مافیا، زورواکې مافیایي ډلې (۵٪)، د خلکو د ملاتړ نشتون، د قومونو ترمنځ شخړې (۴٪) او محلي ملیشې (۳٪) په هیواد کې د تلپاتې سولې پر وړاندې د لویو خنډونو په لیست کې کمې رأیې تر لاسه کړي دي.





کله چې د حکومتوالۍ اړونده ننګونې او خنډونه سره یوځای کړو نو دا جوته کیږي چې دا ډیر لوی خنډ د سولې د پروسې پر وړاندې دی، چه دغه د نیمایي څخه زیاتو (۵۵٪) ځواب ورکوونکو لخوا په نښه شوی دی. داعش او نورې تروریستي ډلې د نژدې یو پر پنځو (۱۸٪) ځواب ورکوونکو د راپور پر بنسټ دویم لوی خنډ بلل کیږي. له دې وروسته ګاونډي هیوادونه (۱۱٪) دریم لوی خنډ، فقر او د بهرنیو ځواکونو شتون د اته سلنې په درلودلو سره څلورم لوی خنډ د افغانستان د سولې پروسې پر وړاندې بلل شوي دي.




صلاح کانسرسیوم په ۱۳۹۷ کال کې هم داسې سروې تر سره کړې وه چې همدغه پوښتنه پکښې پوښتل شوې وه. د دواړو کلونو – ۱۳۹۷ او ۱۳۹۸ - د ځوابونو پرتله وکړو نو ګورو چې داعش د یو ډېر لوی خنډ د سولې په وړاندې له ۳۲ سلنې په ۱۳۹۷ کې ۱۱ سلنې ته ۱۳۹۸ کې راټیټ شوی دی. د بهرنیو ځواکونو د شتون ۱۴ سلنې څخه په ۱۳۹۷ کال کې ۸ سلنې ته په ۱۳۹۸ کال کې راکمه شوې ده. پداسې حال کې چې، د ګاونډیو هیوادونو سلنه له ۹ څخه په ۱۳۹۷ کې ۱۱ سلنې ته په ۱۳۹۸ کې را لوړه شوې او لومړي خنډ په حیث له داعش سره په یوه کچه کې ولاړه ده. نور خنډونه د تیر کال په پرتله یا دو برابره یا کم ترکمه لوړ شوي دي. د داعش په سلنه کې د سولې په وړاندې د لوی خنډ په حیث ډېر کره کموالی ښایي د دې ډلې په وروستیو نظامي ماتو پورې تړلی وی، چې وروسته له دې دغه ډله ډېر مهم نظامي قوت نه بلل کیږي.





د ښځو او نارینه وو ترمنځ داسې په دغه اړه لوی توپیر د انګیرنو راپور ندی ورکول شوی. یوڅه توپیر چې د دغو دوه ګروپونو ترمنځ شته هغه په دې ډول دی: داعش (ښځې ۱۲٪ او نارینه ۱۰٪) د قانون د حاکمیت نشتون (ښځې ۱۰٪ نارینه ۸٪) او اداري فساد (ښځې ۱۰٪ او نارینه ۹٪) دی. خو نارینه ځواب ورکوونکي د ګاونډیو هیوادونو په اړه د سولې په وړاندې د خنډ په حیث په پرتله د ښځو ډېر تشویش لري (نارینه ۱۲٪ او ښځې ۹٪).





په راتلونکو پراګرافونو کې، دغه خنډونه او ننګونې بیا په دوه ډولونو ویشل شوې دي او د زونونو په کچه د سروې پایلو ته په دغه هکله کتنه شوې ده. لومړی ډول هغه ده بهرني خنډونه دي چې داعش، بهرني تروریستي ډلې، ګاونډي هیوادونه او د بهرنیو ځواکونو شتون پکښې شامل دي. داعش او ګاونډي هیوادونه دوه هغه کتګورۍ دي چې د زونونو په کچه ئې مختلف ځوابونه خپل کړي دي.

په څلورو زونونو کې: د کابل/مرکزي، شرق، غرب او شمال غرب داعش په اړه بالترتیب (۱۳٪، ۱۲٪، ۱۳٪ او ۱۲٪) د ګاونډیو هیوادونو (٪۱۰، ٪۹، ٪۱۱، او ۱۰٪) په پرتلې سره لوړ راپور ورکړل شوی دی. په پاتې څلورو زونونو کې: مرکزي لوړې، جنوبشرق، جنوبغرب او شمالشرق پر خلاف د مخکې زونونو ګاونډي هیوادونه لوی خنډ د سولې په وړاندې نسبت داعش ته لوی خند ګڼل کیږي (۱٦٪ د ۷٪ په وړاندې، ۱۴٪ د ۷٪، ۱۲۵ د ۸٪ او ۱۱٪ د ۹٪ په وړاندې). دا ډیره څرګنده ده چې په هغو زونونو کې چې د داعش شتون لوړه کچه لري هلته ځواب ورکوونکو داعش د سولې په وړاندې لوی خنډ شمیري، په داسې حال کې چې هغه زونونو چې د داعش لپاره موخې نه دي په هغو کې ګاونډي هیوادونه د سولې په وړاندې ستر خنډ په ګوته شوي دي.


د بهرنیو ځواکونو شتون د یوه بهرني خنډ په توګه په ځینې زونونو کې د اوسط څخه لوړه سلنه خپله کړې ده لکه په جنوبغرب (۱۱٪)، غرب او شمالغرب (۱۰٪)، که څه هم د یو بهرني خنډ په حیث په ملي کچه دریمه درجه (۸٪) کې راغلی دی. د بهرنیو تروریستي ډلو شتون د ملي کچې څخه په درې زونونو کې لوړ دی: کابل/مرکزي، مرکزي لوړې او غرب (۷٪)، پداسې حال کې چې دا په دو زونونو کې ملي کچې ته مساوي او په پاتې زونونو کې له ملي کچې ټیټ دی.





دغه څلور لوی خنډونه چې پورته تشریح شول د سولې په خنډونو کې بهرني خنډونه بلل کیږي. ځواب ورکوونکو همداراز لوی کورني خنډونه هم په ګوته کړي او دا مستقیماً په ناوړه حکومتوالی پورې اړه لري. د قانون د حاکمیت نشتون او اداري فساد د ناوړه حکومتوالی مهم اړخونه جوړوي. دغه دواړه ننګونې د یو له یوولسو (۹٪) ځواب ورکوونکو لخوا په ګوته شوي دي. د قانون د حاکمیت نشتون په پنځه زونونو کې د ډیر لوړ خنډ په حیث او حال داچې اداري فساد بیا په درې زونونو کې لومړی مقام ګټلی دی.




د قانون د حاکمیت د نشتون او اداري فساد څخه وروسته ضعیفه ولایتي اداره، بیوزلي او فقر او د مخدره توکو مافیا په هیواد کې د تلپاتي سولې په وړاندې دویمه ډله د خنډونو بلل شوي دي. ضعیفه ولایتي اداره په شمالشرق (۱۲٪) او جنوبغرب کې (۱۰٪) د ټولو څخه لوړ خنډ، او د مخدره توکو مافیا په جنوبغرب (۹٪) او مرکزي/کابل (۷٪) کې د ټولو څخه لوړ خنډ بلل شوی دی. په پاتې څلورو زونونو کې فقر او بیوزلي د سولې پروسې د دوه نورو خنډونو څخه وړاندې دی.




د کانونو مافیا، د خلکو نه ملاتړ او د زورواکو او قدرت مافیا د کورنیو خنډونه په لړۍ کې دريمه ډله خنډونه جوړوي. په ملي کچه دغه دریواړه خنډونه په دريمه درجه کې راځي خو د زونونو په منځ کې ډیر لوی توپیر د دغو خنډونو په منځ کې شته. د دوي له منځه، د کانونو مافیا د سولې د پروسې په وړاندې په شمالشرق (۹٪) او شرق (٦٪) زونونو کې د لومړي خنډ په توګه معرفي شوی ده. د خلکو نه ملاتړ په شمالغرب زون (۵٪) کې لومړی درجه خنډ دی، حال داچې زورواکې او د قدرت مافیا په مرکزي/کابل (۸٪) او جنوبغرب (٦٪) تر ټولو لوړه کچه لري. قومي شخړې یوازې په یوه زون مرکزي لوړې کې د پنځو خنډونو څخه له ټولو لوړ (۷٪) راپور ورکړل شوی دی.





اوس چې مو د ځواب ورکوونکو انګیرنې د سولې د پروسې په وړاندې د لویو ننګونو او خنډونو په اړه ترلاسه کړې، نو څو چې په د ځواب ورکوونکو نظریې د هغو لاملونو په اړه چې له وسله والو ډلو په ځانګړي ډول د طالبانو سره د ځوانانو د یو ځای کیدلو سبب ګرځي او د دوي زیان منونکي نکتې جوتې کړو.


## ۲.۲ – د وسله والو ډلو سره د ځوانانو د یوځای کیدلو بنسټیز لاملونه

کله چې د ځواب ورکوونکو څخه پوښتنه وشوه چې ولې افغان ځوانان د وسله والو ډلو په ځانګړي ډول طالبانو سره یو ځای کیږي، ډیر مشهور ځواب اقتصادي لاملونه وښودل شول: د دوه پر پنځو څخه زیات (۴۱٪) د ځوابونو هغه مجموعه وه چې

اقتصادي لاملونه (٢٨٪) او د دندو نشتوالی (١٣٪) ښودل شوی دی. ناخوښیو د یوې ربعې څخه زیات (٢٧٪) ځوابونه کې څرګند شوي دي چې په هغه کې عمومي ناخوښی (١٦٪) – دویم لوی لامل - او د ناوړه حکومتوالی په پایله کې ناخوښی (١١٪) شمیرل شوې ده. نورو ځوابونو کې ایډیالوژي پورې اړونده لاملونه (١١٪) په عدلي او قضایی سیستم کې اداري فساد او د بهرنیو ځواکونو شتون (٦٪) ځایي جګړه مار (٥٪) د قدرت حرص (۴٪) د بنسټیزو لاملونه په ډله کې راځي چې له وسله والو مخالفو ډلو سره د ځوانانو د یوځای کیدو لاملونه دي.





د ښځو او نارینه وو تر منځ ډیر کره تفاوت په دې اړه نه لیدل کیږي.




په دې اړه چې ځوانان ولې د وسله والو مخالفو ډلو سره یو ځای کیږي د زونونو په کچه په ځوابونو کې توپیر لیدل کیږي. که څه هم د دندو د فرصتونو نشتون په اقتصادي لاملونو پورې تړلی دی خو دلته ځواب ورکوونکو دا په جلا ډول یاد کړی دی

او دا ښايي د دغه لامل د خورا اهميت په بنسټ چې دوی ته ئې لري. د دواړو په یوځای کولو – اقتصادی لاملونه او د دندو نشتوالی – د ټولو لوی او مهم حقیقت جوړوي چې د دوه پر پنځو څخه لوړه سلنه ئې نژدې په ټولو زونونو کې خپله کړې ده: مرکزي/کابل (۴۳٪)، شرق (۴۲٪)، جنوبشرق (۴۴٪)، غرب (۴۱٪)، شمالغرب (۴۴٪) او مرکزي لوړې (۴۴٪) سلنه لري. مونږ څه ټيټوالی په دې اړه په جنوبغرب (۳۷٪) او شمالشرق (۳٦٪) وينو، چې بيا هم د يو پر درې څخه زيات دی.

۲: ستاسو په نظر وسله والو ډلو، په خاصه توګه طالبانو سره، د ځوانانود یوځای کیدو دلیل څه دی؟





## ۳. سیاسی اراده

يوه بنسټيزه پوښتنه چې د هيواد د عامو وګړو منځ کې د سولې د پروسې په اړه را پورته کيږي هغه د افغان حکومت او طالبانو سياسي اراده د سولې د راستلو لپاره دی. د دغې سروې ځواب ورکوونکو څخه پوښتنه وشوه چې د دوی انګيرنه د دواړو غاړو په اړه، د دوی رښتينولي، او آيا دا چې دوی سياسي اراده د سولې د تړون په اړه لري. د راپور په دې برخه کې به نه يوازې د ځواب ورکوونکو آند د دواړو غاړو د سياسي ارادې په هکله وکتل شي بلکې د ځواب ورکوونکو باور پر دې چې د سولې خبرې به داسې نتيجې يا د سولې تړون ته ورسيږي چې هغه به د طالبانو ټولو ډلو ته، په ځانګړي ډول هغو ته چې د دوی وسله وال کنټرولوی د منلو وړ وي.


د ټولو خنډونو په نظر کې نيولو سره سره چې په دې سروې کې څرګند شول، ځواب ورکوونکو د افغان حکومت او طالبانو د سياسي ارادې په اړه چې د سولې موافقې ته به ورسيږي مثبت ځوابونه ورکړل.

### ۳.۱ – د سولې په هکله د دولت په سياسي اراده د خلکو باور

له درې ربعو څخه زيات ځواب ورکوونکو (۷۹٪) د حکومت په سياسي اراده باور لري چې طالبانو سره به د سولې موافقې ته ورسيږي (۳۱٪ ډير باور او ۴۸٪ يو څه باور لري). دلته د يو ربعې څخه کم ځواب ورکوونکې (۲۱٪) هغه څوک دي چې د حکومت په سياسي اراده په اړه باور نلري.





د ښځو او نارینه ځواب ورکوونکو ترمنځ د باور په کچه کې لږ توپیر لیدل کیږي، چې (۸۰٪) نارینه او (۷۸٪) ښځینه ځواب ورکوونکي د حکومت په سیاسي اراده باور لري چې سوله راولي.




د ځواب ورکوونکو د باور کچه د حکومت ارادې په هکله چه د سولې لپاره یې لري، له یو زون څخه بل زون ته توپیر لري. ډیر لوړ باور په شرق او جنوبغرب (۸۶٪)، مرکزي لوړې (۸۵٪)، حال داچې شمالغرب (۶۷٪) چې د باور ډیره ټیټه کچه ده بیان کړې ده. دغه توپیر د لوړې او ټیټې کچې ترمنځ شل سلنه ده چې ډیر کره توپیر د حکومت د سیاسي ارادې په اړه د سولې په راوستلو کې دی.


۳: ستاسو په نظر افغان حکومت سولې راوستلو لپاره سیاسي اراده لري؟





## ۳.۲ – د سولې په هکله د طالبانو په سیاسی اراده د خلکو باور

د ځواب ورکوونکو څخه همداراز پوښتنه وشوه چې خپلې انګیرنې د سولې په راوستلو کې د طالبانو د سیاسي ارادې په اړه څرګندې کړي. نژدې دوه پر درې (٦٣٪) ځواب ورکوونکو وویل چې دوی پر دې باور لري چې طالبان د سولې د راوستلو لپاره ارده لري (ډېر باور ١٧٪ او تر یوه حده باور ۴٦٪). دلته د خلکو د باور په اړه د حکومت او طالبانو د سیاسي ارادې په هکله یو لوی توپیر د ٢٣ سلنې شتون لري. د ځوابونو سره سم ٣٨ سلنه د خلکو یا باور یا هم هیڅ باور نلري چې طالبان هیواد ته د سولې د راوستلو اراده لري.


۴: ستاسو په نظر طالبان سولې راوستلو لپاره سیاسي اراده لري؟





د ښځو او نارینه وو ترمنځ ډېر لوی توپیر د طالبانو د ارادې په اړه چې سوله به راولي، شتون لري. ښځې د نارینه وو په پرتله کم باور لري. یوازې د درې پر پنځو (٥٩٪) څخه کمې ښځې او له دوه پر درې (٦٧٪) څخه زیات نارینه په دې باور دي چې طالبان د سولې راوستلو ته اراده لري.




د سولې راوستلو لپاره د طالبانو د ارادې په اړه د باور کچه په مختلفو زونونو کې ډیر کره توپیر بیانوي. ډیر لوړ باور په جنوبغرب (۸۱٪) زون کې راپور ورکړل شوای دی، له دې څخه وروسته درې ربعې په شرق (۷۵٪) کې دغه باور ښودلی دی. پداسې حال کې چې ډیره ټیټه کچه د باور په مرکزي لوړو (۳۱٪) او په شمالغرب (۴۳٪) کې ثبت شوې ده چې طالبان سیاسي اراده د سولې د راوستلو لپاره لري.




لاندې معلومات د ځواب ورکوونکو د باور توپیر د سولې د راوستلو په اړه د حکومت او طالبانو په سیاسي اراده څرګندوي. حکومت، نسبت طالبانو ته، د باور ډیر لوړ تناسب ترلاسه کړی دی (۷۹٪ د ۶۳٪ په پرتله).




د سولې په راوستلو کې د حکومت او طالبانو د سیاسي ارادې په هکله لوړه کچه د باور دا څرګندوي چې افغانان د سولې روانې پروسې ته لوړې هیلې له ځانونو سره لري. پر طالبانو د ټیټ باور کچه ښایي د طالبانو له هغه دریځ څخه چې په تکرار د افغان حکومت له استازو سره خبرې اترې ردوي، سرچینه اخیستي وي. ژر یا ځنډ، به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې پیل شي او دا کار به دغه انګیرنې بدلې کړي – ښایي دا په دې پورې تړلې وي چې خبرې به څنګه مخ ته لاړې شي. نو ځکه مونږ د ځواب ورکوونکو څخه پوښتنه وکړه چې د خپل باور کچه د سولې د خبرو په پایلو مونږ ته بیان کړي.


## ۳.۳ – د سولې د مستقیمو خبرو اترو پایلې

مونږ د ځواب ورکوونکو څخه وپوښتل دوی څومره باور لري چې د حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې مخامخ خبرو پایله به د سولې تړون باندې پای ته ورسیږي. درې ربعې د ځواب ورکوونکو (۷۵٪) راپور ورکړ چه دوی باور، یا هم څه باور، لري چې ددغو خبر پای به د سولې تړون وي. یو له اوه ځواب ورکوونکو څخه وویل چې دوی باور نلري چې دغه مخامخ خبرې به سوله راولي، پاتې برخه لس سلنه ځواب ورکوونکو وویل چې دوی نه پوهیږي.


۵: آیا تاسو ډاډه یاست چه د حکومت او طالبانو تر منځ مخامخ خبرې به سوله راولي؟




کره توپیر د ښځو او نارینه ځواب ورکوونکو په منځ کې ددې پوښتنې په ځواب کې نه لیدل کیږي. نارینه ځواب ورکوونکي د ښځینه ځواب ورکوونکو په پرتله درې سلنه زیات باور لري چې مخامخ خبرې د سولې په تړون پای ته ورسیږي (۷٦٪ نارینه او ۷۳٪ ښځینه).





په زونونو کې د ځوابونو ترمنځ لوی توپیر شته. د څلور پر پنځو (۸٦٪) څخه زیات ځواب ورکوونکي په جنوبغرب کې وايي چې دوی باور لري د حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې مخامخ خبرې به په سوله پای ته ورسیږي. دغه د باور لوړه کچه په جنوبشرق کې (۸۳٪) او شرق کې (۸۰٪) ده. په شمالغرب زون کې ډېره ټیټه کچه د باور راپور ورکړل شوې ده، هلته چې د یو پر درې څخه زیات (۳٦٪) ځواب ورکوونکي وايي چې دوی باور نلري د حکومت او طالبانو د سولې مخامخ خبرې به سوله راولي.





### ۳.۴ – د سولې د تړون منل د طالبانو لخوا

ځیني خلک، په ځانګړي توګه هغه چې د افغان حکومت پلویان او یا هم سیاسي شنونکي دي، په دې عقیده دي چې د طالبانو په مشرتابه کې د سولې د تړون په هکله مخالفتونه شته دي. دوی دعوی کوي چې د سولې هغه تړون چې د طالبانو د سیاسي دفتر لخوا په دوحه کې لاسلیک شي هغه بنایي د طالبانو د قوماندانانو لخوا ونه منل شي، هغه څوک چې احتمالي ماته د افغان حکومت د امریکائي ځواکونو د وتلو څخه وروسته شوني بولي. نو ځکه مونږ د ځواب ورکوونکو څخه پوښتنه وکړه چې آیا دوی عقیده لري چې د سولې ممکن تړون به د طالبانو د ټولو ډلو لخوا ومنل شي.

د نیمایي څخه زیاتو (۵۵٪) ځواب ورکوونکو وویل چې دوی باور لري چې د سولې ممکنه تړون به د د طالبانو د ټولو ډلو لخوا ومنل شي، حال دا چې د یو پر درې څخه کمو (۳۱٪) ځواب ورکوونکو وویل چې یوازې په قطر کې میشت طالبان به دا ومني. یو له اوه ځواب ورکوونکو (۱۴٪) ویلي دي چې دوی په دې عقیده دي چې د سولې تړون به یوازې د کویټې د شورا تر امرلاندې طالبان ومني.





د ښځو او نارینه وو ډیر لږ توپیر په دې هکله راپور ورکړی دی. لږ ډیرې ښځې د نارینه په تناسب عقیده لري چې د سولې تړون به د طالبانو د ټولو ډلو لخوا ومنل شي، (۵۵ سلنه ښځې او ۵۴ سلنه نارینه همدا وایي.)




له دې سره سره، د زونونو ترمنځ توپیر په ځوابونو کې ډیر لوی دی. د څلور پر پنځو (۸۱٪) څخه زیاتو ځواب ورکوونکي په جنوبغرب کې باور لري چې د طالبانو ټولې ډلې به سولې تړون ومني. د باور دغه کچه بیا د جنوبشرق زون ځواب ورکوونکو په وسیله په درې پر پنځو (٦٠٪) سره تعقیب شوې ده. د مرکزي لوړو سیمو زون ځواب ورکوونکي ډیره خوشبیني دغه مسئله کې نلري، یوازې ۳۱ سلنه وایي چې دوی باور لري د طالبانو ټولې ډلې به د سولې تړون ومني؛ له نیمایي څخه ډیر (۵۲٪) د ځواب ورکوونکي په دغه زون کې عقیده لري د سولې د تړون منل به د طالبانو د دوحې ګروپ ته محدود وي. د شمالغرب زون ځواب ورکوونکي په مساوي ډول ویشل شوي دي: ۴۲ سلنه فکر کوي چې د طالبانو ټولې ډلې به د سولې تړون ومني، او ۴۱ سلنه فکر کوي چې د سولې تړون به یوازې د دوحې د طالبانو ګروپ ته محدود وي.

۶ ستاسو په آند که طالب مشران د سولې تړون امضا کړي، نور طالب جنګیالي به یې ومني؟





## ۴. استازیتوب

استازیتوب د سولې په خبرو کې نه یوازې د عامو وګړو اندېښنه ده بلکې د طالبانو غاړې ته هم دا اندېښنه ده چې آیا په سیمه کې به د دوی قوماندان د هغه څه څخه اطاعت وکړي چې د دوی استازو د دوحې په دفتر فیصله کړې ده. دلته یو پرمختلونکې اندېښنه د حکومت خواته هم ده. د حکومت او نورو سیاسي ډلو ترمنځ ویش، او د دوی ناتواني، چې په یوه استازې ټیم سره سلا شي چې طالبانو سره خبرې وکړي، هغه څه دي چې ډېر وګړي فکر کوي چه دغه د فرصتونو کړکۍ د مذاکرې څخه را پورته شوي تړون پرمخ وتړي. نو څکه سروې د عامو وګړو څخه پوښتنه وکړه چې چا باندې باور لري چې د دوی ښه او اغیزمن استازیتوب به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې راتلونکو خبرو کې وکړي. مونږ لومړی دا هڅه وکړه چې په دې پوه شو چې څوک د دوی ښه استازیتوب کولای شي، او دویم مو دا سروې وکړه چې د ځواب ورکوونکو انګیرنه د حکومت د ونډې په هکله د سولې په خبرو کې مهمه ده.


### ۴.۱ – د سولې په خبرو اترو کې څوک تاسو ښه استازیتوب کولای شي

د ځواب ورکوونکو څخه پوښتنه وشوه چې څوک به د دوی د ګټو ښه استازیتوب د سولې په خبرو کې وکړي. نژدې دوه پر پنځو (۳۹٪) ځواب ورکوونکو وویل چې دولت د دوی د ګټو اغیزمن استازیتوب کولای شي، له دې وروسته بیا د جګړې د قربانیانو استازي (۱۵٪) او مدني ټولنه (۱۳٪). یو له لسو (۱۰٪) څخه ځواب ورکوونکو ویلي دي چې ښځې د دوی د ګټو اغیزمن استازیتوب د سولې په خبرو کې کولای شي، حال داچې نه (۹) سلنه ځواب ورکوونکو وویل چې د دوی د ګټو ښه استازیتوب سیاسي ګوندونه/ډلې کولای شي. یو له څوارلسو (۷٪) څخه ویلي دي چې د دوی د ګټو ښه استازیتوب دیني/قومي مشران، او د ځوانان استازي (۷٪) د سولې په خبرو کې کولای شي.





ځوابونو ته په کتنې سره دا څرګندیږي چې د یو پر دریو څخه زیات نارینه (۳٦٪) ځواب ورکوونکي غواړي چې د سولې په خبرو کې د دوی استازیتوب دولت وکړي، پداسې حال کې چې د ښځو سلنه پنځه پر نارینه وو ډیره ده (۴۱٪). د جګړې د قربانیانو استازیتوب د نارینه وو لخوا (۱۷٪) بلل شوی چې د ښځو (۱۳٪) څخه لوړه ده. مدني ټولنه د ۱۴ سلنې نارینه او ۱۲ سلنه ښځینه وو لخوا غوره شوې ده. د ځوانانو استازي په دواړو ښځو او نارینه وو کې یو شان دي (۷ سلنه نارینه او ٦ سلنه ښځینه).

عجیبه داده چه نژدې دوه برابره نارینه (۱۳٪) د ښځو څخه (۷٪) ویلي دي چې دوی غواړي د ښځو لخوا د دوی استازیتوب د سولې په خبرو کې وشي. سروې دا هم وښودله چې د سیاسي ګوندونو/ډلو په اړه باور د نارینه وو ترمنځ خورا کم دی، څلور سلنه نارینه غواړي چې د دوی استازیتوب د سولې په خبرو کې د سیاسي ګوندونو/ډلو لخوا وشي پداسې حال کې چې ۱۴ سلنه ښځینه غواړي د سولې په خبرو کې د دوی استازیتوب سیاسي ګوندونه/ډلې وکړي.




د زونونو د ځوابونو ترمنځ کره توپیر شته دی. شمالشرق یوازې هغه زون دی چې له نیمایی څخه زیات (۵۲٪) ځواب ورکوونکي ئې غواړي چې د سولې په خبرو کې دولت د دوی استازیتوب وکړي، که څه هم، د دولت استازیتوب د سولې په خبرو کې په ټولو زونونو کې خورا لوړ دی، په استثناء د جنوبغرب زون چې هلته د جګړې د قربانیانو استازي د ځواب ورکوونکو ډیر ښه انتخاب دی. د دولت استازیتوب د سولې په خبرو کې په کابل مرکزی (۳۰٪) جنوبغرب (۳۱٪) او جنوبشرق زون (۳۳٪) کې ډیر ټیټ دی.

۷: ستاسو په نظر، دسولې خبرو کې کومه ډله ستاسو د ګټو ساتلو کې په موثره توګه ستاسو نمایندګي کولی شي؟





د استازیتوب په مسئله کې دولت غوره انتخاب شمیرل کیږي، ځکه ۳۹ سلنه ځواب ورکوونکو هغه د خپل استازیتوب لپاره غوره کړی دی. اوس به مونږ دا جوته کړو چې ځواب ورکوونکي د حکومت رول د سولې په خبرو کې څومره مهم ګڼي.


## ۴.۲ – د سولې په خبرو اترو کې د افغان دولت رول

کله چې د ځواب ورکوونکو څخه پوښتنه وشوه تر څو خپل آند د افغان دولت د اهمیت په اړه د سولې په خبرو کې له طالبانو سره وړاندې کړي، له درې پر پنځو څخه زیاتو (۶۱٪) ځواب ورکوونکو وویل چې د سولې په خبرو کې دولت مهم دی، یا ډیر مهم (۴۸٪) یا هم مهم (۱۲٪). د یو پر درې څخه کمو (۳۲٪) ویلي دي د دولت رول د طالبانو سره په خبرو کې مهم نه دی. پاتې اته (۸) سلنه ځواب ورکوونکو وویل چه مونږ نه پوهیږو. د یادوني وړ ده چې دهغه ځواب ورکوونکو شمیرچې باور ئي درلود چې دولت ډیر ښه کولای شي د دوی د استازیتوب د سولې په خبرو کې وکړي (۳۹٪)، په تیره برخه کې له کومو خلکو چې ویلي دي د دولت رول د سولې په خبرو کې مهم دی (۶۱٪) ډیر کم دي.


۸: ستاسو په آند دسولې خبرو کې د حکومت ونډه څومره مهمه ده؟



دغې پوښتنې ته په ځواب کې کم توپیر د ښځو او نارینه وو ترمنځ شته دی. نژدې دوه پر درې (٦٣٪) نارینه او له دې څخه کم ښځینه (۵۸٪) وایي د دولت رول له طالبانو سره د سولې په خبرو کې یا ډیر مهم یا مهم دی. ډیرو ښځو (۳۴٪) نسبت نارینه ووته (۳۰٪) ویلي دي چې د دولت رول له طالبانو سره د سولې په خبرو کې مهم نه دی.




دلته ځینې توپیرونه د ځواب ورکوونکو ترمنځ په مختلفو زونونو کې د دولت رول اهمیت د طالبانو سره د سولې په خبرو شته دی. ډیر لوړ شمیر د ځواب ورکوونکو، هغه چې وایی د دولت رول ډیر مهم یا مهم دی، په شمالشرق (۷۵٪)، مرکزي لوړې (۷۴٪) او جنوبشرق (۷۳٪) زون کې دی. ډیر لوی شمیر د ځواب ورکوونکو چې وایی د دولت رول د سولې په خبرو کې مهم نه دی په شرق (۴۵٪)، شمالغرب (۳۷٪) دی. شمالغرب زون کې د هغو کسانو چې ویلي دي مونږ نه پوهیږو (۱۷٪) ډیر لوړ دی.



## ۵. ستراتیژی او محتوا

### ۵.۱ – د سولې د خبرو اترو لپاره واړندې شوې محتوا

مونږ د ځواب ورکوونکو څخه پوښتنه وکړه چې د دوی درې لومړیتوبونه چې د حکومت او طالبانو د سولې د خبرو په اجنډا کې شامل شي کوم دي. اوربند او د جګړې ختمول د لومړني لومړیتوب په درجه کې راغلل چې د یو پر درې (۳۳٪) ځواب ورکوونکو لخوا نومول شوی ؤ. له دې څخه وروسته د ښځو حقونه (۱۵٪) تلپاتې سوله (۹٪) او د خلکو غوښتنې او سپارښتنې په نظر کې نیول (۷٪) په څلورم لومړیتوب کې راغلی دی.

ډیره عجیبه ده چه څلور سلنه ځواب ورکوونکو د هیواد د راتلونکې لسیزه په انکشافي ستراتیژۍ باندې بحث کولو وړاندیز کړی دی. د ډیرو ځوابونو په ترتیب سره د وړاندې شویو موضوعاتو لیست د ځوابونو او سلنې سره په لاندنې جدول کې وګورئ:

| ګڼه | د سولې خبرواترو اجنډا ته وړاندې شوې موضوعات | د رایو شمیر | سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د جګړې پای او اور بند | ٤۷۰۲ | ۳۳ |
| ۲ | د ښځو او ماشومان حقوق | ۲۰۹۱ | ۱۵ |
| ۳ | تلپاتې سوله | ۱۲٦٤ | ۹ |
| ٤ | د ولس سپارښتنو او غوښتنو ته ارزښت ورکول | ۱۰٤۷ | ۷ |
| ۵ | د امنیت ټینګښت | ۸۸۸ | ٦ |
| ٦ | د حکومت او طالبانو ژمنه د بریالوی خبرو اترو لپاره | ٦۸۰ | ۵ |
| ۷ | بحث بالای نقاط بزرګ ستراتیژی و انکشافی کشور | ۵۲۷ | ٤ |
| ۸ | د بندیانو خوشی کول | ۲۵۵ | ۲ |
| ۹ | سمیزی اقتصادی فعالیتونو کی د افغانستان ونډه | ۲۵۵ | ۲ |
| ۱۰ | اساسی قانون | ۱۹۲ | ۱ |

پوښتنه د تفصیلي ځواب لپاره مرکه کیدونکو ته ورکول شوې وه، دا دلیل دی چې مونږ متنوع ځوابونه رارسیدلي دي. د ځوابونو بشپړ لیست په لاندنې جدول کې ورکول شوی دي:

| ګڼه | د سولې خبرواترو اجنډا ته وړاندې شوې موضوعات | د رایو شمیر | سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱۱ | اسلامی جمهوری نظام د شریعت تطبیق سره | ۱۸۷ | ۱ |
| ۱۲ | د بهرنیو ځواکونو وتل | ۱۷۳ | ۱ |
| ۱۳ | د ولس په ځانګری توګه ځوانانو ته در کار شرایط برابر ول | ۱۵٦ | ۱ |
| ۱٤ | په مختلف اړخونو کی ازادی او د بیان ازادی | ۱٤٦ | ۱ |
| ۱۵ | د نجونو او ښځو زده کړی /لوړی زده کړی | ۱۲۷ | ۱ |
| ۱٦ | د جمهوری نظام ساتل | ۱۲٦ | ۱ |
| ۱۷ | د خلکو مدنی حقونه | ۱۲٤ | ۱ |
| ۱۸ | د بشر حقونه | ۱۲۳ | ۱ |
| ۱۹ | د تاوتریخولی مخنیوی په ځانګری توګه د ښځو په وړاندی | ۱۲۳ | ۱ |
| ۲۰ | د عدالت ټینګښت | ۱۱۸ | ۱ |


| سلنه | د رایو شمیر | د سولې خبرواترو اجنډا ته وړاندې شوي موضوعات | ګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۱۶ | د ښځو ونډه په ټول اړخونو کی سیاسی ، اجتماعی او نور | ۲۱ |
| ۱ | ۹۲ | د هیواد دینی سیاسی او فرهنګی ارزښتونو ته ژمنه او درناوی | ۲۲ |
| ۱ | ۸۹ | د تیرو ۱۸ کلونو لاسته راوړنې ساتل | ۲۳ |

مونږ مخکې ولیدل چې اکثریت د ځواب ورکوونکو د سولې  تړون ته د رسیدلو په اړه لوی باور په افغان حکومت او طالبانو لري. دوی همدارګز د سولې د مخامخ خبرو لپاره د هیلو یو لوی لیست ترتیب کړی دی، چې دواړه غاړې به په ډیرو او مختلفو موضوعاتو کې موافقې ته رسیږي. اجنډا ته د وړاندې شویو موضوعاتو څخه څرګندیږي چې افغانان د سولې د پروسې په اړه یا اندیښنه او یا هم ډیر محتاط دي. دوی د شخړې د دواړو غاړو څخه توقع لري چې په مختلفو موضوعاتو کې چې د اوربند څخه پیل بیا تراساسي قانون، د ښځو حقونه، د دندو فرصتونه، سیمه ایزه اړیکې، د راتلونکې لسیزې اقتصادي پلان او داسې نورې ډیرې مسئلې شاملې دي، خبرې او موافقه وکړي.


اوس مونږ هغه بیه چې ځواب ورکوونکي غواړي د سولې د لاسته راوړلو لپاره پرې کړي په دقت سره ګورو.

## ۵.۲ – د سولې لپاره څه له لاسه ورکړو

د دې لپاره چې پوه شو کومه یا څومره بیه ځواب ورکوونکي غواړي د سولې لپاره پرې کړي، مونږ وپوښتل چې په لاندینیو حقونو کې کوم یو د سولې لپاره له لاسه ورکوی. له یو پر درې څخه زیاتو (۳۶٪) ځواب ورکوونکو وویل چې دوی تیار نه دي یو له دغو څیزونو څخه هم له لاسه ورکړي. یو له اوه څخه (۱۳٪) ځواب ورکوونکي دې ته تیار دي چې د سولې لپاره ټاکنې له لاسه ورکړي، یو له دیارلسو (۸٪) ځواب ورکوونکي حاضر دي د بشر د حقونو کمیسیون، همداراز د بیان آزادي (۸٪)، د ښځو کار د کور څخه بهر (۸٪)، اجتماعی عدالت او جمهوری نظام (۷٪)، د بشر/ښځو حقونه او د ښځو تعلیم (۶٪) څخه تیریدلو ته تیار وو.





ډیر لږ توپیر د ښځو او نرو په ځوابونو کې شته، څه ډیرې ښځې وایی چې دوی نه غواړي د سولې لپاره هیڅ څیز له لاسه ورکړي، او ډیر نارینه د ښځو په پرتله وایی چې دوی تیار دي د بشر د حقونو کمیسیون د سولې لپاره له لاسه ورکړي.




خو دلته ډير کره توپير د دې پوښتنې په ځواب د زونونو ترمنځ موجود دی. هغو چې وايي دوی حاضر نه هيڅ ځيز له لاسه ورکړي له نژدې دو پر درې (۶۵٪) په مرکزي لوړو سيمو، نژدې نيمايي په شمالغرب او غرب (۴۹٪) د ځواب ورکوونکو جوړوي، حال داچې د يوې ربعې شاوخوا (۲۸٪) په جنوبشرق، جنوبغرب (۲۷٪) او مرکزي کابل (۲۶٪) ته را غورځيدلی دی.

مرکزي کابل، جنوبشرق او جنوبغرب هغه زونونه دي چې له اوسط څخه زيات ځواب ورکوونکي حاضر دي دغه ليست شوي حقونه له لاسه ورکړي.





وروسته له دې چې د سولې په خنډونو، د حکومت او طالبانو په سياسي اراده او د سولې په خبرو کې د استازيتوب په مسئلو مو رڼا واچوله، د ځواب ورکوونکو څخه مو پوښتنه وکړه چې ستاسو په فکر څه ځيز تلپاتې او پائيدونکې سوله په هيواد کې ضمانت کولای شي.

## ۵.۳ – د سولې راوستلو لپاره ښه ستراتيژي


د ځواب ورکوونکو نظريات د سولې جوړونې لپاره د يوې ښې ستراتيژۍ په هکله په لسو لويو ستراتيژيو او يا د ستراتيژۍ په عناصرو او برخو ويشل شوي دي. ښه حکومتوالی د ټولو ځخه په لوړه کچه (۱۵٪) کې راغله، د قانون حاکميت او د مساوي حقونو او فرصتونو جوړول د ټولو لپاره لږ ټيټ (۱۴٪)، ښه او باکيفيته تعليم (۱۲٪) او په ځوانانو پانگونه د ښې راتلونکې لپاره (۱۰٪) د سولې جوړونې د ستراتيژۍ لپاره مهم گڼل شوي دي. هغه ستراتيژۍ چې له لسو څخه ئې کمه رايه اخيستې ده عبارت دي له: د کار فرصتونه د ځوانانو لپاره (۹٪)، د قربانيانو ناخوښۍ ليرې کول (۸٪)، د عامه خدماتو وړاندې کول (۸٪، د ښځو ونډه په پرمختيا کې (٦٪) او په پای کې د قدرت شريکول (۴٪) ځواب ورکوونکو شميرلې دي.

که څه هم ښه حکومتوالی د يو ځانگړي عنصر په ډول د ځواب ورکوونکو لخوا وړاندې شوې ده خو ډير نور وړانديز شوي عناصر هم په ښه حکومتوالی پورې تړلي دي. ويلای شو چې ښه حکومتوالی د ممکنه سولې د معاملې د دوام لپاره ډيره مهمه ده، لکه په مقابل کې ضعيفه حکومتوالی ډير رول د روانې منازعې په جاري ساتلو کې لرلای شي. مونږ دا هم بايد په ياد ولرو چې ناوړه حکومتوالي او ضعيفه ولايتي اداره د سولې د پروسې په وړاندې په لويو خنډونو کې شميرل شوې وه.

۱۱ ستاسو په نظر د تلپاتې سولې جوړولو لپاره غوره کړنلاره يا ستراتيژي څه ده؟





د ستراتيژيو په هکله ځوابونه په لويه کچه د ښځو او نرو له نظره يو شان وو، په يوې استثناء سره چې ښځې بايد د انکشافي پروسې يو اړخ وي – دغه ستراتيژي د سولې د دوام لپاره نژدې دوه برابره نارينه وو (۸٪) نسبت ښځو (۴٪) ته په نښه کړې ده.




د زونونو په کچه، ځوابونه د سولې د جوړښت د ستراتیژیو په اړه په ډیر کم توپیر سره د دغو ستراتیژیو په منځ کې په هماغه ترتیب پاتې دي. د مثال په توګه، د قانون حاکمیت رهبري کونکې ستراتیژي د مرکزي لوړو (۱۸٪) او مرکزي کابل (۱۷٪) ده. ښه او باکیفیته تعلیم لوړې رایې په جنوبغرب (۱۷٪) خپلې کړې، پداسې حال کې چې د مساوي حقونو او فرصتونو برابرول په شرق زون (۱۷٪) کې رهبري کونکې ستراتیژي ده. په نورو ټولو زونونو کې ښه حکومتوالی لوړه وړاندې شوې ستراتیژي ده. لکه چې مو مخکې بحث پرې وکړ ډیرې نورې ستراتیژۍ چې د ځواب ورکوونکو لخوا پیشنهاد شوې دي په ښه حکومتوالی پورې اړه لري، نو ځکه ویلی شو د سولې د دوام لپاره په لوړه کچه وړاندې شوې ستراتیژي د ښې حکومتوالی ستراتیژي ده.


۱۱: ستاسو په نظر د تلپاتي سولې جوړولو لپاره غوره کړنلاره یا ستراتیژي څه ده؟





## ۵.۴ – د اوربند لپاره غوښتنه

د اوربند موضوع د افغانانو لخوا په ډېره لوړه کچه را پورته شوې ده، دغه موضوع په رسنیو کې هم تر بحث لاندې راغلې او په دې وروستیو کې د رئیس جمهور لخوا له طالبانو سره د مخامخ خبرو لپاره د شرط په ډول هم وړاندې شوی ده. خو د طالبانو لخوا دې ډېر اهمیت نه دی ورکول شوی. نو څکه مونږ د ځواب ورکوونکو څخه وپوښتل چې آیا دوی په نږدې راتلونکې کې د اوربند هیله لري. نږدې ټولو ځواب ورکوونکو (۹۳٪) وویل چې دوی په هیواد کې د اوربند هیله لري. یوازې یو په ځوارلسو (۷٪) ځواب ورکوونکو کې وایی چې دوی د اوربند هیله نلري. د اوربند لپاره غوښتنه په هماغه کچه پاتې دی څرنګه چې د صلاح د ۱۳۹۷ کال سروې هم د دغه راپور ورکړی ؤ.


۱۲: راتلونکي کې د اوربند هیله لری؟



ښځې او نارینه د اوربند د هیلې په اړه دواړه یو بل ته ډېر نژدې دي، یوازې یو سلنه ښځې د نارینه وو څخه په کمه کچه د اوربند هیله لري.





د زونونو ترمنځ کره توپیر په ځوابونو کې شتون لري. په لوړ تناسب ځواب ورکوونکو د اوربند هیله او غوښتنه په غرب زون (٪۹۹) دی، شمالغرب (٪۹۸) جنوبغرب (٪۹٦)، شرق (٪۹٦)، مرکزي لوړې (٪۹۴) او مرکزي کابل (٪۹۲) ځواب ورکوونکو دا غوښتنه ثبت کړې ده. ډیر ټیټ ریکارد د اوربند د غوښتنې په اړه په جنوبشرق (٪۷۴) او شمالشرق (٪۸۳) زونونه ثبت شوي دي –دا هغه زونونه دي چې له (٪۹۰) څخه کم ریکارد ثبت کړی دی. که څه هم دا هم د خلکو د یوې لوړې سلنې استازیتوب کوي.




د ۱۳۹۸ او د ۱۳۹۷ کلونو د ځوابونو پرتله د دغې پوښتنې په اړه، ډیر لوړ او کره کموالی په جنوبشرق زون کې (له ٪۹۷ په ۱۳۹۷ کال کې ٪۷۴ په ۱۳۹۸ کال) لوی توپیر د اوربند په غوښتنه کې دی، حال داچې ډېر لوی زیاتوالی په مرکزي لوړو کې (د ٪۷۸ څخه په ۱۳۹۷ کال کې ٪۹۴ ته په ۱۳۹۸ کال) ډیره غوښتن بلل کیږي. ځوابونه په شمالشرق زون کې د تیر کال په شان ټیټ او یو بل ته نژدې دي (٪۸۵ په ۱۳۹۷ کال کې او ٪۸۳ په ۱۳۹۸ کال).

۱۲: راتلونکي کې د اوربند هیله لری؟





## ٦. مهم لوبغاړي/ذیدخله غاړې

د ډېرو په آند، په ځانګړې ډول د افغانانو، د دغې منازعې لاملونه یوازې کورني مسائلو ته محدود نه دي، بلکې دا منازعه سیمه ایز او نړیوال اړخونه هم لري. په دغې سروې کې مونږ داسې پوښتنې وپوښتلې چې د هغو په مرسته کورني او بهرني ظرفیتونه ښکاره شي کوم چې کیدای شي د افغانستان د سولې د پروسې د ملاتړ لپاره استعمال شي. په دغه ډله پوښتنو کې، د ځواب ورکوونکو څخه پوښتنه وشوه چې کوم ظرفیت دوی لري چې د سولې په جوړښت کې د دوی په خپل ځای کې ورڅخه ګټه واخیستل شي. وروسته له دوی څخه پوښتنه وشوه چې ګاونډي هیوادونه د افغانستان د سولې د پروسې په ملاتړ کې څه رول لوبولی شي، او بیا مو وپوښتل چې نړیواله ټولنه، ملګرې ملتونه او د اسلامي تعاون کنفرانس څه رول د سولې په روانه پروسه کې لوبولی شي.


### ۶.۱ - یو تن د سولې په هکله څه کولای شي

د ځواب ورکوونکو څخه پوښتنه وشوه چې دوی د سولې د راوستلو او دهغې د پایښت لپاره کوم شخصي ظرفیت لري. نژدې یو پر درې (۳۲٪) ځواب ورکوونکو وویل چې دوی کولای شي د خپلو کورنیو او ماشومانو سره کار وکړي او دوی ته د سولې د ګټو په اړه معلومات ورکړي. د یوې ربعې څخه زیات (۲۸٪) وویل دوی دا ظرفیت او توان لري چې خپلو خپلوانو او کلیوالو سره د سولې د پرمختګ په اړه خبرې وکړي. له یو پر پنځو څخه لږ زیات (۲۱٪) ځواب ورکوونکو وایي چې دوی تیار دي چې خپل دښمن ته بخښنه وکړي، او ۱۲ سلنه د ځواب ورکوونکو وایي چې دوی دې ته تیار دي په خپله سیمه کې د حکومت او وسله والو مخالفینو تر منځ د خبرو اترو آسان چاري ترسره کړي. یوازې شپږ سلنه خلکو وویل چې دوی د سولې د راوستلو لپاره هیڅ هم نشي کولای.

یو غوڅ اکثریت د ځواب ورکوونکو (۹۴٪) په دې عقیده دي چې دوی د سولې لپاره په یوه یا بله طریقه څه کولای شي. دا یوازې دا نه څرګندوي چې افغانان اراده لري د سولې د راتلو لپاره څه وکړي، بلکې دوی د ځان لپاره د یو رول هم پیژندلی دی. په بل عبارت، افغانان خپل ځانونه د مرستې څخه بې وسه نه ګڼي او په منازعه کې د بهرنیو لوبغاړو اثر لاندې هم نه دي. یوه ډیره کوچنی برخه د ځواب ورکوونکو وایي چې دوی هیڅ نشي کولای ښایي په دې دلیل چې دوی احساس کوي چې د منازعې کورني او بهرني لوبغاړي له دوی قوي دي او یا د دوی د نفوذ له ساحې څخه بهر ښکاري.





د ښځو او نارینه وو د ځوابونو ترمنځ داسې کره توپیر نه لیدل کیږي، یوازې لږ تفاوت چې ډیری ښځې وایي چې دوی د سولې د پروسې ملاتړ نشي کولای.




د زونونو په کچه، هغه خلکو چې وویل کولای شي یو څه د سولې په پروسه کې ترسره کړي، په جنوبغرب او مرکزي لوړو کې (۹۸٪) او بیا په مرکزي کابل (۹٦٪)، په جنوبشرق (۹۵٪)، غرب (۹۴٪)، شمالغرب (۹۳٪)، شرق او شمالشرق زونونو کې (۹۰٪) ثبت شوي دي. هغو ځواب ورکوونکو چې ویلي دي دوی به خپلو کورنیو او ماشومانو سره د سولې په هکله کار وکړي په ډیرو زونونو کې په لومړۍ درجه کې پاتې شوي، که څه هم په مرکزي کابل کې ډیرو ځواب ورکوونکو ویلي دي دوی به خپلوانو او کلیوالو سره د سولې په اړه خبرې وکړي. هغه برخه چې ویلي دي دوی هیڅ هم نشي کولای ډیر لوړ ریکارډ په شرق او شمالشرق (۱۰٪) کې ثبت کړی دی، پداسې حال کې چې ډیر ټیټه سلنه په جنوبغرب او مرکزي لوړو کې (۲٪) ثبت شوې ده.


۱۳: تاسو پخپله د سولې راوستلو لپاره څه کولی شی؟





د افرادو د سولې لپاره د کار کولو اراده او د هغوي د نفوذ ساحه باندې د پوهیدو څخه وروسته مونږ څو ترځو د ګاونډیو هیوادونو څخه د ځواب ورکوونکو د هیلو او توقعاتو په اړه چې د سولې پروسې ته ملاتړ شي، پوښتنه وکړو.

## ۶.۲ – د همسایه هیوادونو څخه هیلې

سروې د ځواب ورکوونکو څخه وپوښتل چې د دوی هیلې او توقعات د ګاونډیو هیوادونو څخه د سولې د پروسې د ملاتړ په اړه څه دي. نژدې یو ربعې (۲۴٪) وویل چې د دوی توقع له ګاونډیو هیوادونو څخه داده چې د وسله والو ډلو ملاتړ بند کړي، نژدې یو پر پنځو (۱۹٪) وویل چې دوی توقع لري چې ګاونډي هیوادونه وسله والو ډلو ته پناه او ځای ورنکړي. یو له شپږو (۱٦٪) ځواب ورکوونکو وویل چې د دوی توقع د ګاونډیو هیوادونو څخه داده چې مثبت او فعاله ونډه د سولې په پروسه کې ولوبوي. یو له اوه څخه (۱۴٪) ګاونډیو هیوادونو ته وړاندیز کړی چې له افغانستان سره د ګاونډیتوب اړیکې ټینګې کړي چې د ګاونډیتوب اسلامي اصولو باندې ولاړې وي، او یو په لسو (۱۰٪) داسې فکر کوي چې ګاونډي هیوادونه د ترون څخه وروسته فعالیتونو او کړنو کې ونډه واخلي. له لسو څخه کمې سلنې (۹٪) توقع د ګاونډیو هیوادونو څخه داده چې په سیمه ایزه اقتصادي فعالیتونو کې دې ونډه واخلي، یا ئې هم وړاندیز کړی دی چې ګاونډي هیوادونه کولای شي د سولې د ترون په ضمانت کې ونډه واخلي.





ښځې او نارینه د ګاونډیو هیوادونو څخه د سولې په پروسه کې د توقعاتو او هیلو په هکله یو بل سره نژدې او متحد دي.




همدارنګه، ډیر کم توپیر د زونونو په منځ کې د ځواب ورکوونکو د توقعاتو او هیلو په اړه د ګاونډیو هیوادونو په هکله شته دی. که دواړه هیلې د ګاونډیو هیوادونو څخه چې د وسله والو ډلو ملاتړ بندول او هغوی ته پناه ځای نه ورکول سره یوځای شي نو دوه پر پنځو سلنه په ټولو زونونو کې جوړوي.


۱۴: د سولې پروسې سره په مرسته کې، تاسو له ګاونډیو هیوادو څخه څه غواړئ (تمه لرئ)؟





## ۶.۳ – د ملګرو ملتونو، نړیوالې ټولنې او اسلامي تعاون د کنفرانس څخه هیلې

مونږ د ځواب ورکوونکو څخه د ملګرو ملتونو، نړیواله ټولنې او د اسلامي همکاریو سازمان د ونډې په اړه د سولې په پروسه کې پوښتنه وکړه. دغه سوال له مخکې جوړشوي ځوابونه نه درلودل او خلاصه پوښتنه وه. د ځواب ورکوونکو څخه پوښتنه وشوه چې خپلې درې هیلې له دغو بنسټونو څخه مونږ ته ووایي. نژدې دوه پر پنځو (۳۸٪) ځواب ورکوونکې توقع له دغو بنسټونو څخه داده چې افغانستان ته هراړخیز ملاتړ ورکړي. د سولې پروسې ته ملاتړ په دویمه درجه کې راغی چې نژدې یو پر درې (۳۰٪) ځواب ورکوونکو ویلې ؤ. درې غوښتنې د شپږ سلنې ځواب ورکوونکو لخوا یادې شوي دي: ملاتړ، چې جګړه او تاوتریخوالی ختم شي؛ ژمنه، ضمانت او نظارت د سولې د خبرو او د تړون څخه وروسته ملاتړ؛ او د ښې حکومتوالی دترویج ملاتړ، د اتباعو حقوق او د بیان آزادی څخه ملاتړ کول.

څلور سلنه د ځواب ورکوونکو توقع له دغو نړیوالو بنسټونو څخه داده چې د ګاونډیو هیوادونو مداخله بنده کړي، او دوه سلنه غواړي دوی افغانان د بهرنیو ځواکونو د وتلو څخه وروسته ملاتړ وکړي. دې ته مساوي سلنې (۲٪) یاده کړه چې دغه بنسټونه کله چې له افغانستان سره مرسته او ملاتړ ورکوي باید بې پرې او رښتیني وي، او ملاتړ له اوربند څخه (۲٪). یو سلنه وویل چې دوی توقع لري چې له ښځو څخه ملاتړ وکړي. دوه سلنه ځواب ورکوونکو وویل چې دوی هیڅ توقع له دغو بنسټونو څخه نلري.




ډیر کوچنی توپیر د ښځو او نارینه وو د توقعاتو ترمنځ د دغو نړیواله بنسټونو ملګرې ملتونه، نړیواله ټولنه او د اسلامي همکاریو سازمان د ملاتړ په هکله شته دي.



د هیواد په ټولو زونونو کې، ډېر کره توپیر د ځواب ورکوونکو ترمنځ افغانستان ته د هراړخیزه ملاتړ په هکله موجود دی، ددغې توقع لوړه سلنه په شمالشرق زون کې (۴۲٪)، مرکزي لوړو، او شمالغرب (۴۲٪) خو په شرق او جنوبشرق کې دغه ۲٦ سلنې ته را ټیټه شوې ده.

توقعات د دغو دریو بنسټونو څخه د جګړې او تاوتریخوالي په ختمولو کې په مرکزي کابل کې ډېر لوړ (۱۲٪) چې د ملي کچې څخه دوه برابره لوړه ده، خو دا درې سلنې ته په مرکزي لوړو او جنوبغرب زون کې را ټیټه شوې ده چې د ملي اوسط نیمایي جوړوي. په غرب زون کې سولې پروسې ته ملاتړ ډېر لوړه سلنه خپله کړې ده (۴۲٪)، او شمالشرق کې لس سلنه ځواب ورکوونکو ویلي دوی هیڅ توقع له دغو درې بنسټونو څخه نلري. د پرتلې په صورت هیڅ چا هم په مرکزي لوړو او شرق زونونو کې نه دی ویلي چې دوی توقع نلري.

*۱۵: د سولې پروسې سره په مرسته کې، تاسو له ملګرو ملتونو، نړیوالې ټولنې او د اسلامي همکاریو سازمان څخه څه غواړئ (تمه لرئ)؟*

| هیلې / توقعات | ټول | مرکزی/کابل | شرق | جنوب شرق | جنوب غرب | غرب | شمال غرب | شمال شرق | مرکزی/بامیان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د افغانستان هراړخیزه ملاتړ | ۳۸ | ٤۱ | ۲٦ | ۲٦ | ٤۱ | ۳۲ | ٤۲ | ٤۲ | ٤۲ |
| د سولې د پروسې ملاتړ | ۳۰ | ۲۵ | ۳٦ | ۳۸ | ۲۵ | ٤۲ | ۲۷ | ۲۲ | ۳۲ |
| د تاوتریخوالي او جګړې ختمول | ٦ | ۱۲ | ۸ | ٤ | ۳ | ٤ | ٤ | ٦ | ۳ |
| ژمنه، ضمانت او نظارت | ٦ | ۸ | ۱۱ | ۷ | ۸ | ۳ | ۲ | ۵ | ۸ |
| ښه حکومتوالی، حقونه او د بیان آزادی | ٦ | ٦ | ۵ | ۳ | ۲ | ٤ | ۱۲ | ٤ | ٤ |
| د لاسوهنو بندول | ٤ | ۲ | ٤ | ٤ | ۹ | ٦ | ۲ | ۵ | ۷ |
| ربښتینولی او بی طرفي | ۲ | ۱ | ۲ | ٤ | ۲ | ۳ | ۲ | ۵ | ۲ |
| د اوربند ملاتړ | ۲ | ۲ | ۱ | ٦ | ۱ | - | ۳ | ۱ | ۱ |
| د ښځو د حقونو ملاتړ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۲ | ۱ | ۱ |
| د بهرنیو ځواکونو وتل | ۲ | ۱ | ۵ | ۳ | ۷ | ۱ | ۱ | - | - |
| هیڅ توقع نلرم | ۳ | ۱ | - | ٤ | ۱ | ۳ | ۲ | ۱۰ | - |

## ۷. میتودولوژي (طریقه)

دغه د سولې په اړه د خلکو د انګیرنو سروې د افغانستان په ۳۴ ولایتونو د قوس د میاشتې د ۲۵ څخه د جدي د میاشتې تر لسمې نیټې پورې ترسره شوې ده. د دغې سروې کار په درېو پړاونو کې د مختلفو میتودونو څخه په استفادې سره لاندې بیانیږي:

### لومړی پړاو – د ساحوي کار څخه مخکې ګامونه/فعالیتونه

دغه پړاو چې د ساحوي کار څخه مخکې کړنې او فعالیتونه پکښې شامل دي څلور فرعي مرحلې لري:

لومړی ګام: پوښتنپاڼې جوړول

پوښتنپاڼه د تسوید څخه وروسته د تبصرو او یادښتونو په مقصد ټولو ذیدخلو بنسټونو او سازمانونو ته ولیږل شوه. د تبصرو او یاددښتونو د رسیدلو او په پوښتنپاڼه کې د هغوی پرځای کولو څخه وروسته پښتو او دري ترجمې ته ورکړل شوه. وروسته دغه پښتو او دری پوښتنپاڼې بیا د صلاح کانسرسیوم د استازو لخوا وکتل شوه او له دې څخه اطمینان حاصل شو چې پوښتنپاڼه اوس د دویم ګام (سوپروایزرانو روزنې) لپاره تیاره ده. د دغه کار بله موخه داوه چې پوښتنپاڼه د کوم مقصد لپاره چې جوړه شوې ده هغه پکښې منعکس شوی دی که نه.

دویم ګام: د ولایتي سوپروایزرانو روزنه او د پوښتنپاڼې ساحوي آزموینه

د پوښتنپاڼې د ترجمې او کتنې څخه وروسته دغه بیا نهائي شوه او د ټولو زونونو او ولایتونو سوپروایزران را وغوښتل شول چه د پوښتنپاڼې په هکله روزنه ووینې، تر څو وکولای شي خپل ساحوی سرویرانو ته روزنه ورکړي. روزنیز پروګرام د کسکید یا عمودي میتود څخه په ګټې اخیستلو سره د صلاح کانسرسیوم ټولو غړو بنسټونو چې ځانګړې جغرافیایی موقعیت ورته سپارل شوی ؤ، اجرا شو. په همدې وخت کې، دغو روزل شویو سوپروایزرانو د پوښتنپاڼې ساحوی آزمایښت هم تر سره کړ، ترڅو د ځوابونو او پوښتنو د تکرار څخه مخنیوی وشي، او همداراز د پوښتنو منطقي اړیکه توثیق او یقیني شي.

د ساحوی آزمایښت څخه وروسته رسیدلې تبصرې او یادښتونه په سوالونو کې ځای پر ځای او لازم تغییرات راوستل شول، خو دغه تغییرات ډیر مهم او بنیادي نه وو. زوني او ولایتي سوپروایزران د صلاح د غړیو بنسټونو بیا خپل ساحوي سروی کوونکو ته په اړونده زونونو یا ولایتونو کې روزنه ورکړه.

دریم ګام: د نمونې اخیستلو پلان د ولایتونو لپاره

یوه د نمونې اخیستلو پلان د ساحې لپاره جوړ شو. په دغه پلان کې لاندې عناصر شامل ؤ:

۱. د مرکو شمیره د هرولایت لپاره، د طبقه بندی په اساس

۲. پلان دا اطمینان حاصل کړ چې د کلیوالو او ښاري سیمو ویش په نظر کې نیول شوی او د هغه بنسټ د نفوس پر بنیاد دی؛

۳. پلان دا هم روښانه کړه چې په کوم شمیر ښځې او نارینه وو سره به په هر ولایت کې مرکې کیږي.

۴. پلان همدا ډول څرګنده کړه څو کسه ښځې او نارینه ساحوي سروی کوونکي به په هر ولایت کې پکارو‌ي.

ځلورم گام: د ډیټابیس وده او انکشاف

په دغه مرحله کې، د سروې مشاور چې د سروې د لیکلو مسئولیت ئې هم درلود، یوه ډیټابیس ته وده ورکړه تر څو د ساحې څخه راغلي معلومات د معلومات د درج کولو د ټیم لخوا وخت په وخت پکښې درج شي تر څو په مناسب وخت کې فلتر او تحلیل ته چمتو شي. د ډیتابیس ټیم ته د ډیټابیس د استفادې په اړه روزنه ورکړل شوه. کله چې دوی ته د ساحې څخه معلومات یا ډیټا راورسیدله دوی د ډیټا په اندراج پیل وکړ. وروسته له هغه چې ټول معلومات یا ډیټا د ساحې څخه مرکز ته راغله او ډیټابیس کې درج شوه، وروسته ډیټابیس د سروې مشاور ته ولیږل شو. د فلترینګ او پاکولو څخه وروسته مشاور د ډیټا تحلیل او شننه پیل کړه.

## دویم پړاو – د ساحوي کار په وخت کي ګامونه/فعالیتونه

دغه پړاو درې فرعي ګامونه لري:

لومړی ګام: د پوښتنپاڼو لیږل زونونواو ولایتونو ته

پوښتنپاڼې ولایتونو ته ولیږل شوې او په هر ولایت کې د امکاناتو د شتون او نشتون په صورت کې: که چیرې ولایت کې دا امکانات موجود وو چې پوښتنپاڼې هلته چاپ شي نو سافټ کاپي (الکترونیک بڼه) د پوښتنپاڼې د ایمیل له لارې هغه ولایت ته ولیږل شو او د ولایتي سوپروایزرانو لخوا چاپ او سروې کوونکو ته توضیح شو. په هغه صورت کې چې د ولایت په کچه د چاپ امکانات نه وو نو بیا پوښتنپاڼې یا په کابل او یا هم د اړونده ولایت په زوني مرکز کې چاپ او ولایت لیږل شوي دي. د پوښتنپاڼو د رسیدو سره سم د مرکو تر سره کول پیل شول.

دویم ګام: ساحوي کار د مخامخ مرکو په شکل ترسره شو

کله چې ساحوي سروې کوونکې وروزل شول او د پوښتنپاڼو چاپ شوی ورژن هغو ته ورسید نو سمدلاسه د مرکو ترسره کول پیل شول. د مرکو ترسره کولو دوه اونۍ وخت ونیو. د مرکو کیدونکي ټاکل په لاندې ډول ترسره شوې دي:

۱. د نمونې اخیستنې ساحې په اتفاقي ډول انتخاب او سروې کوونکو ته وویشل شول؛

۲. کورنۍ د اتفاقي ټاکنې په میتود د سروې کونکې لخوا وټاکل شوې؛

۳. د مرکه کیدونکې اتفاقي ټاکنه د پلان شوي جدول پر بنسټ ترسره شوه. د نمونې په هر ځای کې لس مرکې ترسره وشي دي.


دریم ګام: نظارت، چک د ساحوي کار په درشل کې

د صلاح کانسرسیوم غړي بنسټونه ټول د نظارت او ارزونې جدي سیستمونه/یونټونه لري چې د تکړه ټیمونو لخوا نظارتي چارې ترسره کوي. دغه ټیمونه د ټولو پروژو د نظارت او ارزیابی مسئولیت لري. د دغې سروې لپاره یو مشترک د نظارت ټیم د کانسرسیوم لخوا جوړ شوی وو چې د پنځه سلنې چې ۳۴۳ مرکې کیږي مستقیم نظارت ئې د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې ترسره کړی دی. ددې لاندې ستونزو په صورت کې نظارتي ټیم لخوا عاجل او په موقع راپور ورکړل شوی دی:

- که چیرې ضرورت د سروې کونکي د تغییر لیدل شوی وي، که سروې کونکې/کونکی په دې قادر نه ؤ چې مرکې ترسره کړي؛
- که چیرې سروې کونکې/کونکی د نمونې اخیستنې ساحه بدله کړي وي، البته د مسئول شخص د خبریدو پرته د ولایت یا د مرکز په کچه؛
- که چیرې د انتخاب له میتود څخه ئې استفاده نه وي کړي څه د کورنی او یا هم د مرکه کیدونکي/کیدونکي د انتخاب په وخت؛
- که چیرې سروې کونکې/کونکي د مرکې په وخت ټوله پوښتنپانه پوښتلې نه وې.

دویمه دنده د نظارت او ارزیابی د مشترک ټیم داوه چې کم ترکم د اته سلنې مرکو بیا کتنه په مختلفو ولایتونو کې ترسره کړي. د بیا کتنې لپاره د نمونې اخیستنې ساحې په اتفاقي ډول ټاکل کیږي. که چیرې د بیا کتنې ټیم موندنې دا وښیي چې لویه خطا د مرکې یا مرکو په کیدلو کې ترسره شوی دی، ولایتي یا ساحوي سوپروایزر بل مرکه کونکې/کونکی توظیفوی تر څو مرکې بیا له سره ترسره کړي تر څو روڼوالی او حساب ورکول رعایت کړي. په دغه سروې کې ټولې ۵۱۱ مرکې تر بیا کتنې لاندې راغلې دي چې په دوه ویشتو ولایتونو او هم اته زونونو کې ترسره شوې وې. د بیا کتنې څخه دا معلومه شوه چې اکثریت مرکې په ښه توګه ترسره شوې وې او د دوی ځوابونه په صحیح توګه د مرکې په پاڼه کې ثبت شوي وو ۸۲ سلنه د ټولو بیا کتل شویو مرکو جوړوي. پاتې ۱۸ سلنه چې یو پنځه څخه کم دی، یا هیڅ ځواب ورنکړ او یا هم له دې انکار وکړ چې له دوی سره مرکه ترسره شوې وه. اکثریت د دغه اتلس سلنه مرکو په هغه ځایونو پورې اړه درلودله چې هلته امنیتي ستونزو شتون درلود. دا په دې معنا چې مرکه کوونکو د امنیتي ستونزو له امله منفي ځواب ورکړی دی. لاندې چارټ د بیا کتل شویو مرکو پایلې وړاندې کوي.

سلنه د هغو کسانو چې د بک چک په وخت کې یا مثبت ځواب او یا هم منفي ځواب نظارت کونکي ته ورکړی او یا ئې هم هیڅ ځواب نه دی ورکړی
بک چک د اته سلني چې ۵۱۱ مرکې کیږي په ۲۲ ولایتونو کې ترسره شوی دی




## دریم پړاو – د ساحوي کار څخه وروسته فعالیتونه

وروستنی پړاو د سروې د پروژې د ډیټا یا معلومات ټولول، د هغه پاکول، فلتر کول، تحلیل او د تحلیلي راپور لیکل دي. دغه پړاو پنځه فرعي مرحلې یا ګامونه لري چې په لاندې ډول توضیح کیږي:

لومړی ګام: د تکمیل شویو مرکو د اوراقو رسیدل له ولایتونو څخه

د مرکو د بشپړیدو وروسته ډکې شوې پوښتنپاڼې د ډیټا انټري یا د معلوماتو د اندراج ټیم ته په دوه طریقو استول شوې دي: یا د ایمیل (یا کومه بله انټرنټي طریقې څخه) چې په دغه صورت د مرکو سکن کاپې رالیږل شوې ده تر څو د ډیټا د درج کولو پروسې ته سرعت ورکړي؛ یا هم د ترانسپورټ په شتون سره د مرکو پاڼې په فزیکي ډول مرکز ته استول شوي دي. دغو طریقو د ډیټا انټري ټیم ته موقع ورکړې تر څو معلومات ژر تر ژره ډیټابیس ته داخل کړي تر څو د تحلیل او د سروې د راپور لیکلو لپاره تیار شي. د ویلو وړ دی چې هغه مرکې چې د ایمیل له لارې استول شوې وي د هغو اوراق په فزیکي ډول وروسته مرکز استول شوي دي.

دویم ګام: د معلوماتو پاکول او فلټر کول

کله چې ډیټا د هیواد د ګوټ ګوټ څخه راټوله او ډیټابیس ته ورسول شوه، بیا دغه ډیټابیس د معلوماتو د تحلیل مشاور ته وسپارل شو ترڅو هغه د ډیټا یا معلومات چک کړي او په تخنیکي لحاظ دا پیداکړي که چیرې داسې مرکې ترسره شوي وي چې د منلو وړ نه وي. په دغه سروې کې د پاکولو او فلټر کولو په وخت ۴۲۱ مرکې حذف شوې چې یا ۹۵ سلنه مشابه وې یا هم په بشپړ ډول نامکملې او یا هم تکرار وې. په مجموعي ډول د ٦٨٦٩ مرکو څخه – د حذف څخه وروسته – ٦۴۴٨ مرکې د تحلیل او راپور لیکنې لپاره استعمال شوې دي.

دریم ګام: د معلوماتو یا ډیټا تحلیل

مشاور د فلټر کولو څخه وروسته ډیټابیس کې پاتې ٦۴۴٨ مرکو پورې اړونده ډیټا تحلیل کړه او د راپور لیکنې ته تیاره شوه. د ویلو وړ دی چې د صلاح کانسرسیوم استازو او ټاکلي تخنیکي ټیم ته په همدغه مرحله یو پریزنټیشن د ابتدائي موندنو هم ورکول شوی او د هغو نظریات پرې اخیستل شوي دي. د ډیټا د تحلیل مرحله په دې ډیره اوږده شوه چې د پوښتنو په منځ کې دوه خلاصې (تفصیلي) پوښتنې وې چې مختلف ځوابونه ئې درلودل او د هغو په کتګوریو ویشل او بیا هغه په عمومي توګه صنفونو باندې تقسیمول ډیر وخت ته ضرورت درلود چې دا کار ترسره شو.

څلورم ګام: د سروې د راپورلیکنې او کتنې مرحله

د ډیټا د تحلیل او د راپور د لیکنې مشاور د راپور ابتدائي مسوده جوړه او د هغه سره سم ئې یو پریزنټیشن هم تیار کړ تر څو ابتدایي موندنې د صلاح د کانسرسیوم استازو او د کره کتنې تخنیکي ټیم ته وړاندې کړي. د هغوي د تبصرو او وړاندیزونه څخه په ګټې اخیستنې سره د راپور دویمه مسوده جوړه او د کره کتنې تخنیکي ټیم ته واستول شوه. د نظریاتو او تبصرو د اخیستلو څخه وروسته د راپور دریمه یا نهائي مسوده برابره او ټیم ته واستول شوه. ناویلي دې نه وی چې په دغه مرحله کې د صلاح کانسرسیوم مشرانو ته هم یو پریزنټیشن د سروې د موندنو څخه ورکړی شوی دی.

پنځم ګام: مطبوعاتي کنفرانس او د سروې د راپور ویشل

دا هغه فرعي مرحله ده چې د راپور د انګلیسي، پښتو او دری د بشپړیدو څخه وروسته عملي کیږي، اوس چې د راپور نهائي مسودې په درې ژبو تخنیکي ټیم ته لیږل شوي دي نو مطبوعاتي کنفرانس جوړولو وخت لنډ دی.

د سروې د خطا او د باور کچه:

د دغې سروې د خطا کچه ± ۱.۱۸ ده او د باور کچه ئې ۹۵ سلنه اټکل شوې چې پنځه سلنه تردید پکښې ممکن دی.

نوټ: د معلوماتومحرمیت

د مرکه کیدونکو شخصي معلومات به محرم ساتل کیږي او په هیڅ صورت او شرایطو کې به چاته نه افشا کیږي. ساحوي سروې کوونکي به اخلاقي او تخصصي نورمونه او ستاندردونه د مرکو په وخت کې په نظر کې نیسي. صلاح کانسرسیوم غږي د دوی د سروې کوونکو د هر ډول غیر اخلاقي او غیر تخصصي کړنو مسئولیت په غاړه لري.

د دې لپاره چې د دولت د امنیتي ځواکونو د منفي عکس العمل څخه مو مخنیوی کړې وي، د کورنیو چارو وزارت له رهبرۍ څخه مو یو مکتوب ترلاسه کړ. په دغه مکتوب کې دوی خپلو کارکوونکو ته دستور ورکړی تر څو د سروې کوونکو نه یوازې مزاحم نشي بلکې د ضرورت په وخت کې مرسته ورسره وکړي.

## ۸. پایلېزه تبصره

په پایله کې، د دغې سروې موخه داده چې د عامو افغانانوغږ پورته کړي ترڅو یو دریځ د سولې په پروسه کې ولري. دغه سروې د دغو هڅو یو برخه وه. دا به یوازې د وسیلې په توګه او د سولې خبرو ته د محتوا په حیث نه بلکې دا به افغانان دې ته لاهم تشویق کړي تر څو خپلې هڅې نورې هم زیاتې او په فعاله توګه هیواد ته د سولې په راوستلو کې ونډه واخلي. اوس چه د سولې پروسه د بهرنیو او یا هم افغان سیاسي شخصیتونو لخوا روانه ده، عام افغانان مدني ټولنې، قومي/دیني مشرانو او نورو ته د ډیرې مهمې ونډې غوښتونکي دي.

دغې سروې دا څرګنده کړه چې عام افغانان اقتصادي ستونزې او د دندو نشتون لومړنی لامل د وسله والو ډلو سره د ځوانانو د یوځای کیدلو اصلي سبب ګڼي، په دې اړه ایډیالوژي ډیر کوچنی رول لري. پداسې حال کې چې ضعیفه حکومتوالی د منازعې یوه مهمه سرچینه بلل کیږي، خلک بهرنیو عوامل لکه ګاونډي هیوادونه او نړیواله ټولنه هم ډیر مهم بولي. په همدې ډول، خلک عقیده لري چې د افغانانو منازعه ځایي، سیمه ایز او نړیوال اړخونه لري. له دې سره سره افغانان دې ته لیوال دي چې مستقیماً د سولې د ترویج لپاره په کلیوالي کچه کار وکړي. دغه ونډه ښیي چې خلک ځان بیوسه نه احساسوی او د ځان لپاره د پائیدونکې سولې په جوړولو کې ونډه او رول لټوي. د خلکو په انګیرنو کې ډیر مهم کموالی د داعش په اړه د سولې په وړاندې د خنډ په حیث راغلی دی. یوه عجیبه نتیجه دا راووتله چې نژدې دوه برابره نارینه (۱۳٪) په پرتله د ښځو (۷٪) غواړي د سولې په خبرو کې ښځې د دوی استازیتوب وکړي. دغه سروې همدارنګه ښیي چې نارینه ځواب ورکوونکي په سیاسي ګوندونو ډیر کم باور لري ځکه یو له پنځه ویشتو څخه غواړي سیاسي ګوندونه د دوی استازیتوب وکړي پداسې حال کې چې یو په اوه کې د ښځو په هکله دا خبره سمه ده.

د سروې د نتایجو او پایلو سره سم، د ښځو حقونه هغه د لومړیتوب مسئله ده چې د سولې د مذاکراتو په اجنډا کې شامله شي، کله چې د استازیتوب مسئلې ته راشو نو د دولت رول په ځوابونو کې ډیر مهم ښکاري. برسیره پر دې، خلک عقیده لري چې د جګړې د قربانیانو کورنۍ او مدني ټولنه هغه نورې ډلې دي چې د دوی استازیتوب کولای شي. دغې سروې دا هم وښودله چې ۹۳ سلنه خلک د اوربند غوښتنه لري، او اکثریت د خلکو په دې عقیده دي چې دولت (۷۹٪) او طالبان (۶۳٪) کلکه سیاسي اراده د سولې لپاره لري. دا هم مهمه ده، د هرڅه سره سره، چې دځواب ورکوونکو یوه لویه برخه حاضر نه دي د تیرو ۱۸ کلونو لاسته راوړنې له لاسه ورکړي. دغې سروې دا هم وښودله چې د سولې د معاملې څخه توقعات ډیر لوړ دي، او خلک په دې عقیده دي چې پائیدونکې سولې کې یوازې د تاوتریخوالي ختم نه بلکې نور شیان هم شامل دي.

د سولې د خبرو د اجنډا ته په ځواب کې، دغه سروې ښيي چې خلک يوازې سوله نه غواړي بلکې اقتصادي وده، ښه حکومتوالی، سيمه ايزه تړاو، نړيواله مرسته او نور شيان هم غواړي. دا کيدای شي داسې تعبير شي چې سوله يوازې د تاوتريخوالي پای نه دی بلکې د جګړې څخه وروسته د بهتره ژوند کولو شرايط برابرول هم دي.

## ۹. ضمایم

لومړۍ ضمیمه – د سولې خبرو اترو د اجنډا لپاره وړاندې شوی موضوعات

| ګڼه | د سولې خبرواترو اجنډا ته وړاندې شوي موضوعات | د رایو شمیر | سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د جګړې پای او اور بند | ٤۷۰۲ | ۳۳ |
| ۲ | د ښځو او ماشومانو حقوق | ۲۰۹۱ | ۱۵ |
| ۳ | تلپاتې سوله | ۱۲٦٤ | ۹ |
| ٤ | د ولس سپارښتنو او غوښتنو ته ارزښت ورکول | ۱۰٤۷ | ۷ |
| ۵ | د امنیت ټینګښت | ۸۸۸ | ٦ |
| ٦ | د حکومت او طالبانو ژمنه د بریالیو خبرو اترو لپاره | ٦۸۰ | ۵ |
| ۷ | د هیواد د پراختیایي ستراتیژئ مهمو ټکو باندې خبرې کول | ۵۲۷ | ٤ |
| ۸ | د بندیانو خوشې کول | ۲۵۵ | ۲ |
| ۹ | سیمه ایزه اقتصادی فعالیتونو کی د افغانستان ونډه | ۲۵۵ | ۲ |
| ۱۰ | اساسی قانون | ۱۹۲ | ۱ |
| ۱۱ | اسلامی جمهوری نظام د شریعت تطبیق سره | ۱۸۷ | ۱ |
| ۱۲ | د بهرنیو ځواکونو وتل | ۱۷۳ | ۱ |
| ۱۳ | ولس، په ځانګړی توګه ځوانانو ته، د کار شرایط برابر ول | ۱۵٦ | ۱ |
| ۱٤ | په مختلف اړخونو کی ازادی او د بیان ازادی | ۱٤٦ | ۱ |
| ۱۵ | د نجونو او ښځو زده کړی /لوړی زده کړی | ۱۲۷ | ۱ |
| ۱٦ | د جمهوری نظام ساتل | ۱۲٦ | ۱ |
| ۱۷ | د خلکو مدنی حقونه | ۱۲٤ | ۱ |
| ۱۸ | د بشر حقونه | ۱۲۳ | ۱ |
| ۱۹ | د تاوتریخولی مخنیوی، په ځانګړی توګه د ښځو په وړاندی | ۱۲۳ | ۱ |
| ۲۰ | د عدالت ټینګښت | ۱۱۸ | ۱ |
| ۲۱ | د ښځو ونډه په ټول اړخونو کی، لکه سیاسی ، اجتماعی او نور | ۱۱٦ | ۱ |
| ۲۲ | د هیواد دینی سیاسی او فرهنګی ارزښتونو ته ژمنه او درناوی | ۹۲ | ۱ |
| ۲۳ | د تیرو ۱۸ کلونو لاسته راوړنو ساتل | ۸۹ | ۱ |
| ۲٤ | د پوهنی او لوړو زده کړو پرمختیا په هکله د دواړو اړخونو (حکومت او طالبان) دریځ روښانول | ٦۳ | ۰,٤٤ |
| ۲۵ | د ملی ګټو تعریف او ساتل | ٤۸ | ۰,۳٤ |
| ۲٦ | د تولونیز عدالت تامینول | ٤٤ | ۰,۳۱ |
| ۲۷ | انتقالی عدالت | ۳۹ | ۰,۲۷ |
| ۲۸ | ملی اردو او امنیتی ځواکونو ساتل | ۲۹ | ۰,۲۰ |
| ۲۹ | د تاکنیز نظام ساتل | ۲٦ | ۰,۱۸ |
| ۳۰ | اخوت اتحاد و اتفاق | ۲۲ | ۰,۱۵ |
| ۳۱ | یو بل ته عفو او ښښنه | ۲۱ | ۰,۱۵ |
| ۳۲ | د ګاونډیو هیوادنو سره د روابطو څرنګوالی | ۲۳ | ۰,۱٦ |

| گڼه | د سولې خبرواترو اجنډا ته وړاندې شوي موضوعات | د رایو شمیر | سلنه |
|---|---|---|---|
| ۳۳ | ولسواکي | ۱۸ | ۰,۱۳ |
| ۳٤ | په نظام کې د طالبانو ادغام ځرنګوالی | ۱٤ | ۰,۱۰ |
| ۳۵ | ټول شموله نظام | ۱٤ | ۰,۱۰ |
| ۳٦ | د طالبانو د اهدافو توضیح | ۱۳ | ۰,۰۹ |
| ۳۷ | د قانون حاکمیت | ۱۳ | ۰,۰۹ |
| ۳۸ | د ځواکمن نظام جوړول | ۱۲ | ۰,۰۸ |
| ۳۹ | د ملکی کسانو څخه حمایت | ۱۲ | ۰,۰۸ |
| ٤۰ | د طالبانو د تیر رژیم نه تکرار | ۱۲ | ۰,۰۸ |
| ٤۱ | ملی حاکمیت | ۱۳ | ۰,۰۹ |
| ٤۲ | د نور هیواد نو سره روابط | ۱٤ | ۰,۱۰ |
| ٤۳ | د ډیورند کرښه | ۸ | ۰,۰٦ |
| ٤٤ | د ټولو قومونو ونډه او رول په راتلونکی حکومت کی | ۸ | ۰,۰٦ |
| ٤۵ | د سیاسی قدرت تقسیم ویش | ۷ | ۰,۰۵ |
| ٤٦ | د چا په وړندی جهاد ؟ او ولی په افغانستان کی جهاد فرض دی؟ | ۷ | ۰,۰۵ |
| ٤۷ | طالبان باید ژمنه وکړي او تضمین ورکړي چه ټولې ډلې یې سوله مني | ۷ | ۰,۰۵ |
| ٤۸ | د ولس سرنوشت ټاکل | ٦ | ۰,۰٤ |
| ٤۹ | د دواړو اړخونو غوښتنې باید روښانه وی | ٦ | ۰,۰٤ |
| ۵۰ | تکنالوژی او پرختیا | ۵ | ۰,۰٤ |
| ۵۱ | سولی ته د رسیدو څخه ورسته د نظام ځرنګوالی | ۵ | ۰,۰٤ |
| ۵۲ | د ولس ټولنیز،کلتوری او حقوقی ارزښتونو ساتل | ۵ | ۰,۰٤ |
| ۵۳ | طالبانو سره سولی وروسته ښه حکومتوالی | ۵ | ۰,۰٤ |
| ۵٤ | د عامه ملکیتونو او اموالو سر نوشت | ۵ | ۰,۰٤ |
| ۵۵ | د قدرت نه تقسیمول | ۵ | ۰,۰٤ |
| ۵٦ | د هیواد د اوبو مدیریت | ۵ | ۰,۰٤ |
| ۵۷ | نورو هیوادو ته د افغانانو د پناه وړولو مخنیوی | ٤ | ۰,۰۳ |
| ۵۸ | د نړیوالی ټولنی حمایت | ۵ | ۰,۰٤ |
| ۵۹ | یو مستقل هیواد و وسو | ٤ | ۰,۰۳ |
| ٦۰ | اسلامی امارت | ۳ | ۰,۰۲ |
| ٦۱ | نړیوالو قوانین ته ژمنه | ۳ | ۰,۰۲ |
| ٦۲ | موقت حکومت | ٤ | ۰,۰۳ |
| ٦۳ | دراتلونکي لپاره ژمنه او تضمین | ۳ | ۰,۰۲ |
| ٦٤ | د طالبانو دفترونو انتقال هیواد ته | ۲ | ۰,۰۱ |
| ٦۵ | د شته آزادیو ساتنه د تړون څخه وروسته | ۲ | ۰,۰۱ |
| ٦٦ | د قانون تعدیل | ۲ | ۰,۰۱ |
| ٦۷ | د جګړی قربانیانو او د هغوی کورنیو حقونو ته احترام | ٤ | ۰,۰۳ |
| ٦۸ | د سیاسی ګوندونو غوښتنې | ۲ | ۰,۰۱ |

| گڼه | د سولې خبرواترو اجنډا ته وړاندې شوي موضوعات | د رایو شمیر | سلنه |
|---|---|---|---|
| ٦٩ | د افراط او تفریط مخنیوی | ۲ | ۰,۰۱ |
| ۷۰ | د مذهبی او قومی لږکیو حقونو په نظر کی نیول | ۲ | ۰,۰۱ |
| ۷۱ | د سولی د تړون د ضمانت څرنګوالی | ۲ | ۰,۰۱ |
| ۷۲ | نظام باید بدلون و مومی | ۳ | ۰,۰۲ |
| ۷۳ | د ګوندونو او ډلو له منځه وړل | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۷٤ | هیواد ته د طالبانو راستنیدل | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۷۵ | باید د نورو مخالفو وسلوالو ډلو په هکله هم بحث وشي | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۷٦ | هره پریکړه چی کیږی باید د افغانستان د خلکو په خیر او صلاح وی | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۷۷ | د خصمانه تبلیغاتو بندول | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۷۸ | د هیواد څخه په ګډه دفاع | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۷۹ | تړون ته د رسیدو څرنګوالی | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۸۰ | د هیوادنو لاسوهنو مخنیوی څرنګوالی | ۲ | ۰,۰۱ |
| ۸۱ | د ولس د ونډی اخیستنی څرنګوالی | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۸۲ | د ملی پروګرامونو دوام او ساتنه | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۸۳ | د مدنی ټولنی حمایت او ساتنه | ۲ | ۰,۰۱ |
| ۸٤ | مشترک حکومت | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۸۵ | د ګاونډیو او نړیواله هیوادونو حمایت او ضمانت | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۸٦ | غیر واقعی غوښتنی باید اجندا ته داخل نشی | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۸۷ | په راتلونکي نظام باندې هوکړه | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۸۸ | دافغانستان خاوره د نورو هیوادونو پرضد نه کارول | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۸۹ | لرې پرتو سیمو ته د عامه خدماتو رسول | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۹۰ | د رسنیو نه تحریم کول | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۹۱ | نړیوالو سره اقتصادی روابط | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۹۲ | د دواړو ارخونو شرایط باید منطقی وی | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۹۳ | د زبر ځواکو او ذیدخله هیوادونو ضمانت | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۹٤ | د تروریستی ډلو سره د مرستو ختمول | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۹۵ | دامریکې سره یوې پایلې ته رسیدل | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۹٦ | د داعش سره مشترکه مبارزه | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۹۷ | د اداری فساد ختمول | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۹۸ | مدرن او عصری مسایلو لپاره قوانین درلودل | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۹۹ | د مخدره توکو د کښت او قاچاق موضوع | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۱۰۰ | د نړیوالو مرستو موضوع | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۱۰۱ | و سلی د راټولو میکانیزم د سولی تړون څخه وروسته | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۱۰۲ | نظام باید شاهی سی | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۱۰۳ | نظام جوړونه | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۱۰٤ | د سولې په تړون کې باید هرڅه واضح وي | ۱ | ۰,۰۱ |

| گڼه | د سولې خبرواترو اجنډا ته وړاندې شوي موضوعات | د رایو شمیر | سلنه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱۰۵ | د تنازع وړ ټول مسایل باید مطرح شي | ۱ | ۰,۰۱ |
| ۱۰٦ | د طالبانو د کنټرول لاندې سیمو کې اقتصادی او پرمختیایی حالت باید وڅیړل شي | ۱ | ۰,۰۱ |
| | | **۱٤۲۱۸** | **۱۰۰** |

ټول پلان شوې شميره د مرکو د دغې سروې لپاره ۶۰۰۰ مرکې وې. د عمل په درشل کې حد اقل لس مرکې د هر ولايت د پلان شويو مرکو باندې علاوه شوې. په ځينې ولايتونو کې، که څه هم، د نمونې اخيستنې شميره هغې کچې ته لوړه شوې وه چې ښايي د سروې په پايلو منفي اثرات ولري، په دې منظور هغه اضافي مرکې ورڅخه حذف شوي دي. همدارنګه د ډيټا د پاکولو او فلتر کولو په پروسه کې هغه مرکې چې ۹۵ تر ۱۰۰ فيصده تشابه ئې درلوده هم حذف شوي دي. په مجموعي ډول ۴۲۱ مرکې د ۶۸۶۹ مرکو څخه حذف شوي دي، چې په پای کې د نهائي نمونې شمير ۶۴۴۸ مرکې دي د کوم پر بنسټ چې دا راپور جوړ شوی دی. لاندې جدول د نمونې شمير د ولايت په کچه ښيي:

| | ولايت | د مصاحبو تعداد | | تفاوت |
|---|---|---|---|---|
| | | اجرا شوی | پلان شوی | |
| ۱ | کابل | ۱۰٤٤ | ۹۱۸ | ۱۲٦ |
| ۲ | پروان | ۱٤۸ | ۱۳۸ | ۱۰ |
| ۳ | کاپيسا | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ٤ | لوگر | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ٥ | وردگ | ۱۳٤ | ۱۲٤ | ۱۰ |
| ٦ | پنجشير | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ۷ | ننگرهار | ۳۲٦ | ۳۱٦ | ۱۰ |
| ۸ | لغمان | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ۹ | کنر | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ۱۰ | نورستان | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ۱۱ | پکتيا | ۱۲٥ | ۱۱٥ | ۱۰ |
| ۱۲ | پکتيکا | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ۱۳ | خوست | ۱۳۰ | ۱۲۰ | ۱۰ |
| ۱٤ | غزنی | ۲٦٦ | ۲٥٦ | ۱۰ |
| ۱٥ | اروزگان | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ۱٦ | کندهار | ۲٦٦ | ۲٥٦ | ۱۰ |
| ۱۷ | هيلمند | ۲۰۲ | ۱۹۲ | ۱۰ |
| ۱۸ | نيمروز | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ۱۹ | زابل | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ۲۰ | هرات | ٤۰٥ | ۳۹٥ | ۱۰ |
| ۲۱ | فراه | ۱۱٦ | ۱۰٦ | ۱۰ |
| ۲۲ | غور | ۱٥٤ | ۱٤٤ | ۱۰ |
| ۲۳ | بادغيس | ۱۱۳ | ۱۰۳ | ۱۰ |
| ۲٤ | بلخ | ۲۸۷ | ۲۷۷ | ۱۰ |
| ۲٥ | جوزجان | ۱۲۳ | ۱۱۳ | ۱۰ |
| ۲٦ | سرپل | ۱۲٦ | ۱۱٦ | ۱۰ |
| ۲۷ | سمنگان | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ۲۸ | فارياب | ۲۱۸ | ۲۰۸ | ۱۰ |
| ۲۹ | کندز | ۲۱۳ | ۲۱۱ | ۲ |

| | ولایت | د مصاحبو تعداد | | تفاوت |
|---|---|---|---|---|
| | | اجرا شوی | پلان شوی | |
| ۳۰ | تخار | ۲۱۵ | ۲۰۵ | ۱۰ |
| ۳۱ | بدخشان | ۲۰۸ | ۱۹۸ | ۱۰ |
| ۳۲ | بغلان | ۲۰۰ | ۱۹۰ | ۱۰ |
| ۳۳ | بامیان | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| ۳۴ | دایکوندی | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۰ |
| | **جمله** | **۶۴۴۸** | **۶۰۰۰** | **۴۴۸** |

## دریمه ضمیمه – د زونونو ترکیب/تشکیل

| سیمه | ولایات | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **مرکزی/کابل** | کابل | پروان | لوگر | وردگ | کاپیسا | پنجشیر |
| **زون شرق** | ننگرهار | لغمان | کنر | نورستان | | |
| **جنوبشرق** | پکتیا | پکتیکا | خوست | غزنی | | |
| **جنوبغرب** | کندهار | هلمند | زابل | ارزگان | نیمروز | |
| **زون غرب** | هرات | فراه | غور | بادغیس | | |
| **شمالغرب** | بلخ | سمنگان | فاریاب | سرپل | جوزجان | |
| **شمالشرق** | کندز | تخار | بدخشان | بغلان | | |
| **مرکزی لوړی سیمی** | بامیان | دایکندی | | | | |

## څلورمه ضمیمه - پوښتنپاڼه

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته، زمانوم ------------------ دی او د صلاح تحقیقاتي دفتر سره، چه یو مستقل او بې پرې بنسټ دی کارکوونکی یم. موږ په منظمه توگه سروې اوستاسو په شان خلکو سره مرکې کوو چه د هیواد دعمومي مسالو په هکله څه فکر کوي. صلاح دفتر هیڅ دولتي اړیکې نلري. زه ستاسونه صرف دسولې اړوند څو سوالونو په ترڅ کې ستاسو نظر غواړم. ستاسو نوم نه ذکر کیږی، او ستاسو نظریات د سلگونو نورو نظرونو سره یوځای ځیړل کیږي او محرم پاتې کیږي.

د مصاحبې ثبتولو په صورت کې باید د مصاحبه کیدونکي څخه اجازه تر لاسه کړئ.
د کورنی غوره کولو وروسته دا لاندې جدول، دښې لاس طریقه باندې، ډک کړئ.

| شمیره | د کورنی اتلس کلن نه پورته غړو نومونه | عمر |
|---|---|---|
| ١ | | |
| ٢ | | |
| ٣ | | |
| ٤ | | |
| ٥ | | |
| ٦ | | |
| ٧ | | |
| ٨ | | |

د پورتني لست له مخې مرکه کیدونکی په لاندې جدول کې تثبیت، او ورسره مرکه وکړئ.

| دکورنی د غړو شمیر | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١٠ | ٩ | ٨ | ٧ | ٦ | ٥ | ٤ | ٣ | ٢ | ١ | دکور شمیره |
| ٦ | ١ | ٥ | ١ | ٤ | ١ | ٣ | ١ | ٢ | ١ | لمړی کورنی |
| ٥ | ٢ | ٤ | ٢ | ٣ | ٢ | ٢ | ٢ | ١ | ١ | دوهمه کورنی |
| ٤ | ٣ | ٣ | ٣ | ٢ | ٣ | ١ | ٣ | ٢ | ١ | دریمه کورنی |
| ٣ | ٤ | ٢ | ٤ | ١ | ٤ | ٤ | ١ | ١ | ١ | څلورمه کورنی |
| ٢ | ٥ | ١ | ٥ | ٦ | ٥ | ٣ | ٢ | ٢ | ١ | پنځمه کورنی |
| ١ | ٦ | ٨ | ٦ | ٥ | ١ | ٢ | ٣ | ١ | ١ | شپږمه کورنی |
| ١٠ | ٧ | ٧ | ٧ | ٤ | ٢ | ١ | ١ | ٢ | ١ | اوومه کورنی |
| ٩ | ٨ | ٦ | ١ | ٣ | ٣ | ٤ | ٢ | ١ | ١ | اتمه کورنی |
| ٨ | ٩ | ٥ | ٢ | ٢ | ٤ | ٣ | ٣ | ٢ | ١ | نهمه کورنی |
| ٧ | ١ | ٤ | ٣ | ١ | ٥ | ٢ | ١ | ١ | ١ | لسمه کورنی |

د مرکه کیدونکي په هکله معلومات:

| | | |
|---|---|---|
| جنسیت | عمر (سن) | نوم |
| مورنی ژبه | قومیت | د تحصیل کچه |
| | ټلیفون شمیره | وظیفه |
| ولایت | ولسوالی | کلی |
| د مرکې پای | د مرکې پیل | دمرکې نیټه |

۱: ستاسو په نظر د تلپاتې سولې په لاره کې څه خنډ ګرځېدلی شي؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| د نشه يي توکو مافيايي ډلې | h | داعش ډله | a |
| ګاونډي هيوادونه | i | کمزورې ولايتي اداره | b |
| فقر او بيوزلي | j | د کانونو مافيا | c |
| زورواکي/ مافيايي ډلې | k | د بهرنيو ځواکونو شتون | d |
| اداری فساد | L | بهرنی تروريستی ډلی | E |
| قومونو تر مينځ شخړی | M | د خلکو د ملاتړ نشتون | F |
| ځايی مليشه | N | د قانون د حاکميت نشتون | g |

۲: ستاسو په نظر وسله والو ډلو، په خاصه توګه طالبانو سره، د ځوانانود يوځای کيدو دليل څه دی؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| د کاری فرصتونو نشتوالی | ٦ | ايدیالوژی | ۱ |
| دبهرنيو ځواکونو شتون | ۷ | ناخوښی | ۲ |
| دځايی زورواکو شتون | ۸ | اقتصادي لاملونه | ۳ |
| په قضايي سيستم کې د فساد شتون | ۹ | ناوړه حکومتوالی | ٤ |
| | | قدرت ته ليوالتيا | ۵ |

۳: ستاسو په نظر افغان حکومت سولې راوستلو لپاره سياسي اراده لري؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| باور نلرم | ۳ | ډير باور لرم | ۱ |
| هيڅ باور نرم | ٤ | تر يوه حده باور لرم | ۲ |

٤: ستاسو په نظر طالبان سولې راوستلو لپاره سياسي اراده لري؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| باور نلرم | ۳ | ډير باور لرم | ۱ |
| هيڅ باور نرم | ٤ | تر يوه حده باور لرم | ۲ |

۵: آيا تاسو ډاډه ياست چه د حکومت او طالبانو تر منځ مخامخ خبرې به سوله راولي؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| نه، سوله به رانولی | ۳ | زه اعتماد لرم چی سوله به راولی | ۱ |
| نه پوهيږم | ٤ | تر يوه حده به سوله راولی | ۲ |

٦: ستاسو په آند که طالب مشران د سولې تړون امضا کړي، نور طالب جنګيالي به يې ومني؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| يوازې قطر کې ميشته طالبان يې مني | ۲ | هو، ټول يې مني | ۱ |
| | ٤ | د کوټې شورا مشري لاندې طالبان يې مني | ۳ |

۷: ستاسو په نظر، دسولې خبرو کې کومه ډله ستاسو د ګټو ساتلو کې په موثره توګه ستاسو نمايندګي کولی شي؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| عالمان/قومي مشران | ۳ | حکومت | ۱ |
| سیاسي گوندونه/ ډلې | ٤ | مدني ټولنه | ۲ |
| ښځې | ٦ | د جګړې د قربانیانو استازي | ۵ |
| | | د ځوانانو استازي | ۷ |

۸: ستاسو په آند دسولې خبرو کې د حکومت ونډه څومره مهمه ده؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| مهم نه ده | ۳ | ډېر مهم ده | ۱ |
| نه پوهیږم | ٤ | مهم ده | ۲ |

۹: ستاسو په نظردری تر ټولو مهمې مسالې چه طالبانو سره په خبرو کې مطرح شي، کومې دي؟ د اهمیت په ترتیب سره یې ولیکئ.

| | |
|---|---|
| ۱ | |
| ۲ | |
| ۳ | |

۱۰ : دسولې لپاره ددې لاندې مطالبو نه د کوم یوه نه تیریدلی شئ؟ (تیریدو ته تیار یاست)

| | | | |
|---|---|---|---|
| د بشر / ښځو حقوق | ٦ | ټولنیز عدالت | ۱ |
| د کور څخه بهر د ښځو کار کول | ۷ | د ښځو د تعلیم | ۲ |
| د بشر د حقونو کمیسیون | ۸ | ټاکنی | ۳ |
| جمهوري نظام | ۹ | د بیان د آزادي | ٤ |
| | ۱۰ | هیڅ یو د دغو | ۵ |

۱۱ ستاسو په نظر د تلپاتې سولې جوړولو لپاره غوره کړنلاره څه ده؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| ټولوته مساوی حقونه او فرصتونه برابرول | ٦ | ښه حکومتولي | ۱ |
| د بهتر راتلونکی لپاره په ځوانانو پانګه اچونه | ۷ | د جګړې د قربانیانو نا خوښی له منځ وړل | ۲ |
| د عامه خدمتونو وړاندی کول | ۸ | د قانون حاکمیت | ۳ |
| دځوانانو لپاره د کار شرایط برابرول | ۹ | غوره او باکیفیته تعلیم | ٤ |
| ښځو ته په پرمختیا کی ونډه ورکول | ۱۰ | د قدرت شریکول | ۵ |

۱۲: راتلونکي کې د اوربند هیله لرئ؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| نه یې لرم | ۲ | هو | ۱ |

۱۳ تاسو پخپله د سولې راوستلو لپاره څه کولی شی؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| خبر اترو ته لاره هوار ولی شم | ۲ | خپل دښمنان ښښم | ۱ |
| د خپلوانو او کلیوالو سره خبری کوم | ٤ | د سولې د گټو په هکله خپلې کورني او ماشومانو ته پوهاوی ورکولی شم | ۳ |
| | | هیڅ نشم کولي | ٥ |

۱٤: د سولې پروسې سره په مرسته کې، تاسو له گاونډیو هیوادو څخه څه غواړئ (تمه لرئ)؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| وسله والو ډلو ته پناه نه ورکول | ۲ | وسله واله ډلو سره مرسته بندول | ۱ |
| دسولې پروسه کې فعاله ونډه واخلي | ٤ | د گاونډی هیوادونه باید زمونږ سره د گاونديتوب اسلامی اصولو سره سم چلند و کړی | ۳ |
| د سولې تړون وروسته چارو کې ونډه واخلي | ٦ | د سولې په تړون کی د ضامن رول ولوبوی | ٥ |
| | ۸ | دسیمې په کچه په اقتصادي چارو کې ونډه واخلي | ۷ |

۱٥ : د سولې پروسې سره په مرسته کې، تاسو له بین المللي ټولنې څخه څه غواړئ (تمه لرئ)؟

| | |
|---|---|
| | ۱ |
| | ۲ |
| | ۳ |